# افغان هوتکي پاڅون

## د نوي افغانستان د جوړېدو پیلامه



(د سیمینار د مقالو ټولګه)

# افغان هوتکي پاڅون

## د نوي افغانستان د جوړېدو پیلامه

PROPERTY OF ACKU
PROPERTY OF ACKU 16117

(د سیمینار د مقالو ټولګه)

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب ځانګړنې:


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | :: **افغان هوتکي پاڅون (د نوي افغانستان د جوړېدو پيلامه)** (د مقالو ټولګه) |
| ليکوالان | :: بېلابېل |
| خپرندوی | :: د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ـ جرمني |
| چاپ زيار | :: استاد محمد آصف صميم |
| چاپ کال | :: ۱۳۸۵ ل (۲۰۰۶ ع) |
| چاپ شمېر | :: ۱۰۰۰ ټوکه |
| د خپرونو لړ | :: (۸۳) |
| کمپوز | :: ذبيح الله شفق |

چاپ او کمپيوټر ځی

د دانش خپرندويې ټولنې، تخنيکي څانګه ـ پېښور

# فهرست


| ګڼه | سرلیک | لیکوال | مخګڼه |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱ | د هوتکي پاڅون په اړه نوې... | د کولتوري ودې ټولنه | ۱ |
| ۲ | د ټولنې د مشرتابه جرګې پرانیستونکې وینا | | ۳ |
| ۳ | میرویس نیکه. افغان خپلواکي | پوهاند حسن کاکړ | ۱۰ |
| ۴ | پایه های حاکمیت ملي در عصر | پوهنوال ډاکټر روستار تره کی | ۲۳ |
| ۵ | په اتلسمه پېړۍ کې په اصفهان | محمد معصوم هوتک | ۳۵ |
| ۶ | چند درس تاریخي از صعود | کاندید اکاډمیسن سیستانی | ۵۴ |
| ۷ | هوتکي پاڅون او د افغان ملت | عبدالغفور لیوال | ۸۷ |
| ۸ | په هوتکي پلازمېنه اصفهان کې | پوهنمله رحیمه | ۹۷ |
| ۹ | د هوتکي دورې دوه ډبرلیکونه | پوهنوال رسول باوري | ۱۰۲ |

# د هوتكي پاخون په اړه نوې څېړنې

په ۲۰۰۵ کال کې د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې له لوري د هوتكي پاخون د پيلامې د درې سومې كاليزې په وياړ يوه جشني غونډه او علمي سيمينار جوړ شوی و. دغه لمانځنې په جرمني او كندهار كې په پوره پرتم ترسره شوې.

په علمي برخه كې د "افغان هوتكي پاخون او د نوي افغان دولت د جوړېدو پيلامه" تر سرليک لاندې بېلابېلې مقالې واورول شوې.

په دې ټولګه كې د جرمني د علمي سيمينار او د كندهار د علمي غونډې مقالې راټولې شوي او دا دی په يوه ټولګه كې يې تاسو د هېواد د تاريخ مينه والو ته وړاندې كوو.

موږ هيله من يو چې ددغه سيمينار د مقالو ټولګې ددغه

پاڅون په اړه او د افغانستان د نوي تاريخ د پيلامې په باب نوي او په زړه پورې ټکي ولري.

افغان_هوتکي پاڅون د نوي افغانستان د جوړېدو د وياړ هغه پيلامه ده، چې پر څښتنو او بنسټونو يې د نوي خپلواک افغان دولت ماڼۍ جوړه شوې او له دې کبله د افغان ملي هويت په څېړنه کې د يادونې او وياړنې سپېڅلی ځای لري. په دغه ټولګه کې همداسې موضوعګانې په نوې بڼه څېړل شوي دي.

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه

د ۲۰۰۶کال د اپريل ۲۳/جرمني، کولن ښار

# د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې د مشرتابه جرګې په استازۍ

## د ښاغلي ډاکتر محمد صابر پرانېستونکې وینا

## جرمني، یورکزن

## ۲۰۰۵، د سپتمبر لسمه

د لوی او مهربان خدای په نامه

قدرمنو هېوادوالو، پتمنو خوېندو، وروڼو او ګرانو دوستانو!

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ځان نېکمرغه ګڼي چې د یو ستر ملي-افغاني تاریخي ویاړ د لمانځنې او درناوي په مناسبت د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د خورو ورو افغانانو یوه داسې غونډه، یو داسې جشن جوړوي، چې هم خپلو ملي - تاریخي افتخاراتو ته درناوی پکې کېږي او هم دغه خواره واره افغانان په داسې یوه سپېڅلي مناسبت راټولېږي، سره یوځای کېږي او تر ډېرو وختو وروسته یو بل سرهویني، یو بل ته د وروری لاسونه ورکوي او د وطن د تاریخ په یاد، د تاریخي هېواد په یاد د زړه خواله سره کوي.

ترهرڅه دمخه د ټولنې د مشرتابه جرګې په استازۍ تاسې ته د زړه له کومې ښه راغلاست وایم. کور مو ودان چې ددې

غونـــډې د درنښـــت او د افغانـــانو د اتحـــاد او يـــووالي د ښـــې ځرګندونې لپاره مو لـه بېلابېلـو ځـايونو، ښـارونو او هېوادونـو دلتـه د راتګ زحمت ګاللی دی.

د افغانسـتان پـه تـاريخ کـې د لـوړو ځـوړ ډېـر فصـلونه شـته دي، دغه هر بـاب جـلا جـلا څېړنـو تـه اړتيـا لـري او پـه دغـو جـلا جـلا څېړنـو کـې د وطـن د مجمـوعي تـاريخ لپـاره ډېـر نـوي، مهـم او ارزښتناک مواد تر لاسه کېدای شي.

د افغان هوتکي پـاخون او پـه تېـره بيـا د ميـرويس نيکـه د تـدبير، همت، سياست او تـورې، د تـاريخي څېړنې لپـاره زياتـه اړتيـا ځکـه ليدل کېږي چې ددغـه مهـم تـاريخي پـړاو پـه هکلـه ډېـر مـواد پـه لاس کـې نـه لـرو. هـوتکي پـاخون د افغانسـتان د تـاريخ هغـه فصـل دی چې د نـوي خپلـواک افغـان دولـت د جوړېـدو لومړنـی ډېـرې پکـې ايښـودل شـوې دي. دا د نـوي افغانسـتان د جوړېـدو هغـه درشـل دی چـې د خپلواکـی ولـولې يـې د مبـارزې د لارې ملګـرې وې او د ميـرويس نيکـه د تـدبير ځراغونـه يـې د لارې تيـاره ګوټونـه روښانـه کـول. ددغـه پـاخون پـه وروسـتيو کـې چـې د امپراتـورۍ لمـن تـر نـورو هېوادونـو خپـره شـوه او دغـه راز کلـه چـې د خپلمنځـي بـې اتفـاقيو اورونـه پکـې بـل شـول، بدمرغـۍ ورسره پيل شوې او زوال يـې راورسـېد. ددغـو ټولـو مسايلو څېړل د راتلونکو نسلونو د تاريخي تجاربو لپاره پوره ګټور دي.

د افغانسـتان د کلتـوري ودې ټـولنې يـو کـال پخـوا لا ددغـه پاخون د پيلامې د درې سـومې کـاليزې د نمـانځلو تابيـا کـړې وه. پـه دغـه مـوده کـې د غونـډې او جشـن د نمـانځلو ټـولې چـارې

بشپړې شوې او خوښ یو چې نن یې له تاسې سره په ګډه نمانځو.

موږ له بېلابېلو پوهانو او مؤرخينو څخه هیله وکړه چې ددغه پاخون او حرکت پر بېلابېلو اړخونو مقالې تهیه کړي. له نېکه مرغه درنو پوهانو زموږ دغه غوښتنه ومنله او په دې اړه یې خپلې درنې او مهمې لیکنې او څېړنې تهیه کړې، چې یوه برخه به یې دلته او یوه برخه به یې د تاریخي کندهار په غونډه کې وړاندې شي او بیا به د یوې مجموعې په توګه د ټولنې له خوا چاپ او خپره شي.

موږ په دې بریالي شو، چې ددغه وياړلي مناسبت لپاره دغه دولس ټوکه کتابونه چاپ او خپاره کړو:

۱ـ میرویس نیکه: د ارواښاد استاد عبدالروف بېنوا اثر دی، چې څو پنځوس کاله پخوا چاپ شوی و او اوس په نایابو کتابونو کې شمېرل کېده. دغه اثر ښاغلي لیکوال محمد معصوم هوتک دویم ځل چاپ ته چمتو کړ، سریزه او لمن لیکونه یې پرې ولیکل.

۲ـ سل پګړۍ ـ یو پوړنی یا (د هوتکو نومیالي) د ښاغلي محمد معصوم هوتک یو مهم تاریخي اثر.

۳ـ د مسیحي سیلاني تاریخ: لیکوال کروسینسکي پښتو ژباړه د وجیه الله شپون. دا د هوتکو د تاریخ په اړه او د هغوی له خوا د اصفهان د نیولو په باره کې د هغه وخت د مسیحي سیلاني د سترګو لیدلي حالات دي، چې ډېر په زړه پورې دي.

۴ـ غازي امان الله خان: د افغانستان د خپلواکۍ ستوری: د

هغه سیمینار د مقالو مجموعه ده، چې تېر کال د پوهنتون له خوا په همدې تالار کې جوړ شوی و. د غازي امان الله خان د زوی او لور په ګډون د نورو یو شمېر پوهانو خورا ارزښتناکې لیکنې او مقالې پکې راغلې او چاپ شوې دي.

۵ـ د پاچا امان الله واکمنۍ ته یوه نوې کتنه: د پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ دغه تاریخي اثر د یادې شوې دورې په اړه په زړه پورې معلومات وړاندې کوي.

۶ـ رستاخیز قندهار و فروپاشی دولت صفویهٔ ایران: د کاندید اکادمیسین محمد اعظم سیستاني مهم تاریخي اثر دی، چې د هوتکي پاځون په اړه ډېر نوي او ارزښتناک بحثونه لري.

۷ـ د کندهار پاځون: د استاد سیستاني د همدغه اثر پښتو ژباړه ده. پښتو ژباړن یې ښاغلی صالح محمد صالح دی.

۸ـ افغانستان او د پامیر پر سر شخړه: دغه مهم اثر د پامیر د سرحدي کرښې په اړه د تاریخ په اوږدو کې د افغانانو، روسانو، انګرېزانو او چینایانو ترمنځ د اوږدو شخړو مفصل اسناد وړاندې کوي.

ددې کتاب لیکوال الکسي ماکسیمویچ پوستنیکوف دی او له روسي ژبې یې ژباړه ښاغلي محمد طاهر کانې کړې ده.

۹ـ د کوچنیانو نس ناسته: دغه طبي اثر د پوهنیار ډاکټر همایون چاردیوال په قلم لیکل شوی او پوهنتون د پوهنتوني او طبي ساینسي کتابونو په لړ کې خپور کړی دی.

۱۰ـ شهزاده او هیلی: د نومیالي روسي لیکوال پوشکین دغه منظوم اثر ښاغلي محمد یوسف صابر ساپي پښتو کړی او ښاغلي

محمد نادر صابر ساپي نظم کړی دی.

۱۱_ د منرالي اوبو چينې: دغه علمي اثر ښاغلو انجنير ستانه مير زهير او انجنير شېر شاه رشاد ليکلی دی.

۱۲_ د مخ پر ودې هېوادونو اقتصادي ستونزې. دغه کتاب پوهاند ډاکټر نذير احمد شهيدي ليکلی او د پوهنتوني آثارو په لړ کې ټولنې د همدې جشن په وياړ خپور کړی دی

درنو دوستانو!

ددغو کتابونو له چاپ سره زموږ د خپرو شويو کتابونو لړۍ اتيا (۸۰) ټوکو ته ورسېده. دغه ټول آثار د کوم بهرني هېواد او يا د کومې خيريه موسسې له مرستې پرته يوازې او يوازې د ټولنې د غړيو په مياشتنۍ ونډه او د ټولنې د غړيو او مينه والو په مالي ملاتړ د افغانانو په خپلو پيسو چاپ او خپاره شوي دي. موږ ددې جشن ټول لګښتونه او ددغو ټولو کتابونو چاپ او د کندهار د غونډې لپاره د تدارک لګښت يوازې او يوازې د ټولنې د غړيو په مياشتنۍ ونډه ترسره کړ او حتی له دوستانو مو د بسپنې غوښتنه هم ونه کړه.

که چېرته ستاسې په خبر د فرهنګپالو دوستانو ملاتړ راسره وي او زموږ د ټولنې د غړيو شمېر زيات شي، زموږ د علمي او کلتوري کار اغېز به نور هم زيات او متېې به مو غښتلې شي. موږ يوازې د شپږو يورو په مياشتنۍ ونډه د سترو کلتوري ګامونو اوچتولو ته چمتو کېدای شو په دې لړ کې له تاسې هيله لرو چې زموږ متې نورې هم پياوړې کړئ.

درنو هېوادوالو!

اجازه راکړئ، چې له ټولو هغو پوهانو مننه وکړم چې ددې جشن د علمي برخې لپاره يې مقالې ليکلې او دلته يې تشريف راوړی دی او يا د ځينو معاذيرو له امله دلته د راتګ جوګه شوي نه دي.

له ټاسې ټولو څخه مننه لازمه ده، چې په خپل ګډون مو دغه جشن پرتمين کړ.

په تېره د ټولنې د کار له ډلې چې دددې جشن د تدارک ډله هم ده، مننه کوم چې ټل يې د غونډې د چارو د پرمخ بيولو کار څارلی دی.

ددې جشن په کار کې د څو کسانو د هلو ځلو له امله ځانګړې مننه هم پر موږ لازمه ده.

ښاغلي افغان خطاط او انځورګر همايون عاطفي د ټولنې نوی نښان او دغه راز د ميرويس نيکه پورتريت په ښکلې ښه جوړ کړی دی، کور دې يې آباد وي.

ښاغلي عبدالله احسان د جشن د کار په تبليغاتي او خپرنيز اړخ کې له موږ سره ځانګړې مرسته کړې ده، هغه او ښاغلي خالد هادي په ښېوا پانه کې دې جشن ته يوه جلا برخه او کړ کی جوړه کړې ده

افغان دايرکټر ښاغلي واحد نظري د ميرويس نيکه د تاريخي ډرام ځينې برخې ننداري ته تهيه کړې دي او د اروانښاد استاد بريښنا تاريخي نندار يې تمثيلي کړې ده.

ښاغلي عبدالولي برهاني ددې جشن د کار تخنيکي برخې پر

غاړه اخیستې دي او دغه راز ښاغلي مطیع الله روؤفي د هالې د تنظیم او ترتیب په برخه کې نه ستړې کېدونکې هڅې کړې دي.

ښاغلي اسدالله دانش ساپي د دانش کتابتون له لوري ددې جشن لپاره خپرېدونکي کتابونه په خپل وخت او ښکلې بڼه چاپ کړي دي.

ښاغلي انجنیر احمدالله شیري د جشن د ټنګ ټکور د برابرولو په برخه کې له موږ سره لازمه مرسته کړې ده.

دغو ټولو دوستانو ته کور ودانی وایو او دغه راز له ټولو نورو هغو کسانو هم مننه کوو، چې په یو نه یو ډول یې ددې غونډې په جوړېدو او سمبالښت کې زموږ ملاتړ کړی دی.

موږ غوښتل چې د جرمني او کندهار غونډه همدا نن په یوه ورځ وکړو او د هوتکي پاخون تاریخي غونډه دواړه خایه د وطن د تاریخ تیاره اړخونه روښانه کړي، خو د کندهار غونده په افغانستان کې د اولسي جرګې او ولایتي جرګو د ټاکنو له امله او په دغه وخت کې د ممکنه امنیتي ستونزو او په داخل کې د خلکو د ډېرو بوختیاوو له کبله وځنډېده، چې له انتخاباتو وروسته به که خدای کول په کندهار کې جوړېږي.

یو ځل بیا د مشرتابه جرګې په استازی ستاسې د ټولو له راتګ مننه کوم او هیله لرم. چې ددغه جشن بېلابېلې برخې به مو د پاملرنې او خوښۍ سبب شي.

مننه

پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ

# میرویس نیکه، د افغان د خپلواکۍ مخکښ

د افغانستان موقعیت د هغه تاریخ په ژور ډول اغېزمن کړی دی. په دې چې د نړۍ نامتو سوبمنان د افغانستان له لارې یا د منځنۍ اسیا یا د سهیلي اسیا یا د لویدیزې اسیا په لور تللي او په افغانستان کې یې آثار پرېښي دي. دا چې نن ورځ په افغانستان کې څلورو ژبنیو ډلو ته منسوبې ژبې یانې هندو اروپایي، ترکي ـ مغولي، سامي او دراویدي ویلې کېږي په اصل کې د همدغه موقعیت له امله دی. د افغانستان دغه موقعیت تر هغو چې اروپایانو سمندري لارې نه وې پرانیستې او سوداګرې د وچې له لارې کېده. بېخي ډېر مهم وو. تر زیاتې اندازې د همدغه موقعیت له امله و. چې په پخوانی افغانستان کې دینونه هسک شول یا یکې خپاره شوه. څو د سمندري لارو تر پرانیستلو وروسته چې افغانستان نور نو د کاروانونو او ترانزیتي سوداګریو لار نه وه افغانستان ورو ورو کوښه کېده او کلتور یې هم وچېده

افغانستان د شپاړسمې پېړۍ په پیل سره د پارس د صفوي او د هند د مغولي امپراتوریو ترمېنځ وېشل شوی و، په دې ډول چې له اباسین نه تر کلات پورې د مغولو حکم چلېده او کندهار او هرات د صفویانو تر اثر لاندې وو. دوی خو څله د کندهار په سر سره وجنګېدل. له هندوکش نه تر آمو پورې سیمې یا د ځایي واکمنو په لاس وې یا د شیبیاني خانانو تر حکم لاندې وې. په اصل کې افغانستان له دیارلسمې پېړۍ تر پیل وروسته د چنګیزي مغولو په تاړاکونو سره مخ په ښکته روان و او تاریخ یې دېګانه وو تاریخ شوی وو.

کنتهار چې کوټه، ژوب او بلوچستان یې برخې وې او له کلات نه تر فراه پورې پرته سیمه وه، خپل تاریخي اهمیت تر ډېره حده پورې ساتلی و او ددغې سیمې ډېرې برخې د هلمند، ارغنداو او د ترنک سینونو او د معتدلې هوا په لرلو سره تل ښېرازې او ابادې وې. له همدې امله به وي چې په کندهار کې ان تر تاریخ دمخه دوره کې خلک اوسېدلي او وروسته په هلمند او ارغنداو کې مېشتو ګندهاریو په هلمند کې د ګندهار (Gandhar) په نامه ښار جوړ کړ، چې د کندهار اوسنی ښار ددغسې ښارونو په لړ کې وروستی ښار دی.

د مغولو او صفوي حاکمیت په وخت کې په کندهار کې د ابدالیانو ټول خېلونه او د غر یا غلزیو څه خېلونه پراته وو او تاجکان، ملتانیان او سور یې برخنګه اوسېدل او د کندهار "ښار دباندې اکثر کلي او ولس ایرانیان وو"[۱]

د عمومي ډول د غلزیو خېلونه له کلات نه تر کابل پورې د مغولو د کابل صوبه دار تر لاس لاندې وو او ابدالیان چې احمد شاه درانی وروسته درانیان ونومول د کندهار د صفوي بېګلر بیګي یا نایب الحکومه په سیمه کې وو، خو دواړه قومونه په خپلو دننیو چارو کې خپلواک وو او چارې یې خپلو مشرانو ورتنظیمولې. دغه مشران په اصل کې له هغه وروسته د زیات واک څښتنان شول، چې ولسونه یې مېشته شول او کلي او ښارونه یې ودان کړل. ددغو مشرانو له نومیالیو نه سلطان خودکی (پوپل زی) او سلطان ملخی (توخی) وو او دوی په ۱۶۲۴ کال کې سره جوړه وکړه، چې د هغې له مخې ګرم اب د دوی د قومونو ترمنځ ګډه پوله وټاکل شوه. په دې ډول چې ختیزه خوا به یې د غلزیو او لویدیزه سیمه به یې د ابدالیانو وي. په دغې جوړې سره د دوی د قومونو ترمنځ د شخړو مخه ونیول شوه.[۲] ددغو مشرانو په نومونو کې د سلطان له کلمې نه معلومېږي چې دوی د زیات واک خاوندان وو، خو په داسې حال کې چې سلطان ملخی د خپل ولس له خوا سروال غوره شوی و، سلطان خودکی د تاریخ پوه سلطان محمد درانی په وینا "بدون مشوره الوسات مشغول امر ریاست و متکفل کار حکومت ګردید."[۳] د سلطان ملخي سروالي د هند مغولي حکومت او د سلطان خودکي سروالي د صفوي حکومت منلې وه او د دوی ځینو مشرانو ته یې اعزازي لقبونه هم ورکړي وو، خو صفویانو د مذهب له اختلاف سره سره له پښتنو سره ښه چلند کاوه په داسې حال کې چې مغولي صوبه دارانو یا والیانو

ورسره بد سلوك كاوه، شايد له دې امله چې په ختيځ كې روښانيانو د مغلو په مقابل كې كلونه كلونه جګړې كولې او پښتانه قومونه يې په مقابل كې پاڅول. په اصل كې لومړی شاه عباس صفوي (۱۵۸۸_۱۶۲۹) ابداليان په دننيو چارو كې په خپل حال پرېښودل او "په خپل شاهي فرمان يې د پښتنو خپل مشران پر هغوی باندې مقرر كړل."(۴)

په دغه ډول د دواړو قومونو مشران نه يوازې په ولسي چارو كې، بلكې په بين المللي سياست كې په تېره د كندهار پر سر د دواړو امپراتوريو په رقابتونو او جنګونو كې د تجربو خاوندان شول. عمومي وضع لږ و ډېر په دغه شان وه چې په ۱۷۰۲ كال كې د پارس شاه حسين صفوي ګرګين خان كندهار ته د بېګلر بېګي په توګه وټاكه.

په كندهار كې د ګرګين خان تر راتګ وروسته غټې پېښې يو په بل پسې وشوې. دغه وخت په پارس كې شيعهٔ ګان د رسمي سياست له مخې هڅول كېدل او د هغه پرعكس سنيان ځپل كېدل. ددغه سياست له مخې ګرګين خان هم د كندهار سنيان تر فشار لاندې ونيول او له هغو سره يې دغسې چلند پيل كړ، چې لكه ياغيان وي. له عسكرو نه خو يې افغانان په امان كې نه وو.(۵) غير له هغه هم ګرګين دغسې يو كس و، چې د حكومت په كولو كې يې له دسيسو او زور نه كار اخيست. دی چې اول عيسوی ګرجي و، په ګرجستان كې د صفويانو په مقابل كې پاڅېد او چې په جنګ كې مات شو، مسلمان شو او څنګه چې دی يو لايق جنرال و، پاچا دی وبانښه او د شاهنواز په نامه يې

یاد کړ او کندهار ته یې ولېږه، چې دغه ولایت د مغولو له خطر نه وژغوري، ځکه چې مغول پاچا اورنګ زېب اراده کړې وه، چې کندهار بېرته ترلاسه کړي.(۶)

ګرګین چې له یوه شل زریز پوځ سره کندهار ته راغلی و، په دې لټه کې شو چې د ابدالیانو او غلزیانو عنعنوي خپلواکي ړنګه کړي او د خپلې خوښې حکومت پرې جاري کړي. اول یې د ابدالي مشرانو پر ضد دسیسې وکړې او په شهر صفا کې یې د رستم خان سدوزي قوي ډله د هغه له مړینې وروسته وځپله او بیا یې د هغې مخالفه ډله د عزت سدوزي او اتل سدوزي په سروالۍ وهڅوله، چې ارغسان پرېږدي او د کندهار په ختیزه خوا کې مېشته شي. هغوی همدغسې وکړل، خو ډېره موده نه وه تېره شوې چې پوځ ناڅاپه پرې ودانګل، ډېر یې ترې ووژل او ګرګین خان د هغو ډېر لویان کرمان ته وشړل او پاتې ابدالیان د ښوراوک شاوخوا دښتو او غرو ته وکوچېدل.(۷)

د ابدالیانو تر ځپل کېدو وروسته غلزیان په کندهار کې د یوه لوی قوم په توګه پاتې شول.(۸) دا وخت میر خان هوتک، چې په میرویس خان یادېده د غلزیو مشر و. دی که څه هم ځوان او شاید څه باندې دېرش کلن و (د زوکړې کال ۱۶۷۳) د خپل شخصیت له امله او دا چې د ښالم خان هوتک مشر زوی او د خپلې مور نازو انا له خوا د سلطان ملخي توخي لمسی و، د مشرۍ مقام ته رسېدلی. دی د خپلې مایني خان زادې له لارې د پوپل زیو زوم و او د هغوی په ډلبندیو کې یې برخه

اخیسته. د میرویس غښتلې صفت دا و چې د ژوندیو پېښو او شخصي تجربو پر اساس یې تدبیرونه نیول او عملي کول. له دې امله دی په خاص ډول هغو سیاسي او ټولنیزو پېښو ته چې ولس یې په زور ډول اغېزمن کاوه، متوجه و او کشالې یې له ولسي مشرانو سره په خبرو او جرګو سره هوارولې، په تېره چې دی د عصر نومیالی خطیب و او له خپلې شتمنۍ نه یې چې هم له پلاره ورپاتې وه او هم یې په خپله له هندوستان سره په سوداګرۍ کې ډېره کړې وه، د سیاسي مقصد لپاره استفاده کوله. هغسې چې بایزید روښان په کندهاریو باندې د مغولو ظلم پارولی و، داسې هم میرویس د ګرګین خان په زورواکۍ سره پارېدلی و، خو په داسې حال کې چې لومړني د خپلواکۍ غورځنګ په خرګند ډول شروع کړ او نابریالی شو، وروستي د خپلواکۍ حرکت د همکارۍ په جامه کې په پټه پیل کړ او بریالی شو.

ګرګین خان د ابدالیانو له خپلو نه وروسته میرویس هوتک ته رجوع وکړه، شاید په دې مقصد چې د دوستۍ په پلمه دده قوم هم وځپي، خو میرویس هم له وروستیو پېښو نه عبرت اخیستی و او دېته حاضر نه و، چې ګرګین خان یې تېر باسي او هغه ته کومه پلمه برابره کړي. نو یې له هغه سره د همکارۍ لار ونیوله او د ښار د کلانترۍ منصب یې ومانه او ګرګین خان ته یې خان دومره نږدې کړ، چې د سلطان محمد دراني په وینا بیګلر بیګي مذکور نیز او را از دوستخواهان صادق و مخلصان موافق دانسته بی مشوره او بکاری نپرداختی و بغیر اجازه اش

اقدام صلح و جنگ نساختي و اکثر ماليات ديواني دور دست را بمرافقت و موافقت او بدست آوردی." خو ډېره موده نه وه تېره شوې چې ګرګين خان د ميرويس له وار په وار نفوذمن کېدو ته په انديښنه کې شو او ددې لپاره چې د هغه په فکر ميرويس هم د دولت خان سدوزي په شان نه شي اصفهان ته يې وشاړه او له شاه حسين نه يې وغوښتل، چې د کندهار د امنيت په خاطر هغه بايد هلته وساتل شي. دا هغه وخت و چې د ګرجيانو د زور زياتي له امله په کندهار کې خلک ډېر په تنګ شوي او اصفهان ته د پښتنو د دادغوښتنې يو هيات نابريالی وطن ته ستون شوی و.

په اصفهان کې د ميرويس کړه په يقين سره څرګند نه دي، خو دا څرګنده ده چې ميرويس پاچايي دربار ته په لار پيدا کولو سره معلومه کړه چې درباريان په مخالفو ډلو سره وېشل شوي، چې په خپله پاچا يو ضعيف واکمن دی او د پارس امپراتوري مخ په ښکته روانه ده او شيعه ګان او سنيان په ټينګه سره مخالف شوي دي. پر دغه ټکي باندې هم اتفاق دی، چې ميرويس د سوغاتونو په ورکولو او په خپل خاص مهارت او فصاحت سره د ګرګين خان په اړه شاه حسين او د هغه ځينې درباريان مشکوک کړل او ده پرعکس خپل ځان يې د پارس دوست وپېژانده. په يوه بېګانه ملک کې د سياسي بندي (ميرويس) دغه کړه ساری نه لري په تېره چې هغه په مکه کې د حج له اد کولو نه وروسته د صدراعظم اعتمادالدوله له لارې اجازه ترلاسه کړه، چې په کندهار کې د ګرګين خان مشاور وي.

حاجي میرویس کندهار ته په ستنېدو سره له ګرګین خان سره د پخوا په شان همکاري پیل کړه، خو ګرګین پرې ډاډه نه و او ویې غوښتل، چې وېې ازمېيي او د هغه لور یې خپل زوی ته په نکاح وغوښتله. د میرویس لپاره دا یو بل غټ مشکل و، ځکه چې د هغه وخت پښتنو دا خپل سپکاوی باله چې خپلې لونې پردیو ته په نکاح کړي. نو میرویس په کوکران کې ددغې موضوع په سر د قومي مشران د جرګې د پرېکړې له مخې خپله یوه وینځه د لور په نامه په نکاح ورکړه او ګرګین خان یې په دې ډول غافل او د ځان دوست کړ، خو د میرویس په مخ کې اصلي مسئله د خپلواکۍ وه او دی د صفوي دربار په کتنې، د ګرګین په زورواکۍ، د ګرجیانو په زور زیاتي او د خلکو په ناراضي توب دغې نتیجې ته رسېدلی و، چې اوس ددې وخت دی چې ولس له بلواکۍ نه خلاص او په خپل واک شي، خو ددغه کار لپاره نه تنظیم و، نه وسله او نه پوخ او نه هم د وسله والې مقابلې توان. د خپلواکۍ ګټلو لپاره تقاضا هم عمومي نه وه او میرویس د خپلواکۍ د ګټلو او د حکومت د ړنګولو په اړه په مخ کې کوم مثال او سرمشق هم نه درلوده، خو پردې تېنګ و چې د خپلواک کېدو وخت رسېدلی که څه هم په کندهار کې شل زریز بېګانه پوځ ځای پر ځای و ا د ګرګین خان غوندې زورواک جنرال یې قوماندان او د دوی تولو شاته یوه امپراتوري هم ولاړه وه.

میرویس د خپلواکۍ ګټلو لپاره ځانله طرح لرله، چې د هغې له مخې دی به په جرګو سره قومي مشران او د هغو له

لارې د هغوی ولسونه د عمل لپاره اماده کړي او په عین حال کې بېگانه پوځ په حساس وخت کې برخې برخې کړي او د یوې برخې په لاندې کولو سره به د هغې له وسلې نه د نورو برخو په مقابل کې کار اخلي. د میرویس دغه طرح په شلمې پېړۍ کې د ستالین هغه وینا په زړه کوي چې "بنه دیپلوماسي د یوې فرقې کار کوي."

میرویس د خپلې طرح د عملي کولو لپاره هغه وخت لومړی گام اوچت کړ، چې د کندهار په ختیځ دېرش کیلومترۍ کې په مانجه کې یې د قومي مشرانو او روحانیونو یوه پټه جرگه وبلله. ریدي خان مومند یوازینی کس دی، چې په خپلې منظومې محمودنامه کې یې د مانجې قصه راوړې چې د هغې ځینې برخې په پټه خزانه کې راوړل شوې دي بل ډول روایتونه هم شته. په هر حال د جرگې کال به یا ۱۷۰۸ یا ۱۷۰۹ وي. ددغې منظومې له مخې په جرگه کې د میرویس په مشرۍ دغو مشرانو گډون کړی و: سیدال خان ناصر، بابوجان بابي، بهادر خان اندړ، ملا پیر محمد میاجي، عزیز خان نورزي، یوسف خان هوتک، گل خان بابړ، نور خان برېڅ، نصرو خان الکوزی، یحیی خان هوتک، حاجي نور محمد هوتک مشهور په حاجي انگو او یونس خان کاکړ. جرگې پرېکړه وکړه، چې د بلوڅو، کاکړو او ترینانو خانان به خپل ولسونه هڅوي، چې د مالیو له ورکولو نه سر وغړوي یاني یاغي کېږي به، چېگرگین خان مجبور شي هغو خواوو ته یو څه پوځونه واستوي او دوی یې هلته له منځه یوسي. مهمه دا وه چې جرگه مار خپلې

جـرګي او پرېکـړې تـه رښتينـي وو، دغـه راز يـې پـټ وسـاته او پـه خپلې پريکړې يې عمل وکړ.

ګرګين خان چې پـه خپـل انـد لـه دغـه "بغـاوت" نـه خبـر شـو، شپږ نـيم زره عسـکر يـې د ميـرزا سـندل پـه قوماندانـۍ د "ياغيـانو" د ټکولـو پـه مقصـد واسـتول او وريسـې پـه خپلـه لـه زرو تنـو خاصـو سرپرېکړو سره ور روان شو او لـه ميـرويس نـه يـې وغوښتـل چـې لـه خپلو قـومي ايلـه جـاريو سـره د ارغسـان پـه "ده شـيخ" کـې ورسـره يوځـاى شـي. ميـرويس لا دمخـه ګـرګين خـان تـه د امـان الله هوتک په وينـا ډاډ ورکـړى و، چـې "مـوږ او تاسـې تـه پـه کـار دي، چې په ډېـره مېړانـه او ثبـات د داسـې پېښـو مقابلـه وکـړو (او) زه پـه خپله هر ډول فداکارۍ او قربانـۍ تـه حاضـر يـم."[٩] خـو د ارغسـان په ده شـيخ کـې د نـيغې نظـامي مقـابلې وخـت رسـېدلى و، پـه دې ډول چـې د عبـدالغفار هوتـک د هوتکنـامې منظـومې لـه مخـې اووه سـوو ناصـرو او هوتکـو د ميـرويس پـه قوماندانـۍ د ګـرګين خان پر زرکسيز پوځ باهنـدې د شـپې پـه ترورمـۍ کـې ناڅاپـه بريـد وکړ او له منځه يې يووړ.

وو په شمار اووه سوه کسه
داسې څوک دي له دې پسه
وده شيخ و ته روان شوه
برابر پر کافران شوه
تر صباح (پورې) دوى جنګ که
پر کافرو (يې) ځاى تنګ که
د توپونو ټکهار شو

دوی له خوب څخه بېدار شو
نور د تورو شرنګا شرنګ شو
د هوتک د ګرجي جنګ شو
درسته شپه چې دوی دا جنګ که
د همه افغانو ننګ که.[۱۰]

میرویس له هغه وروسته کندهار ته متوجه شو، چې هلته دولس نیم زره عسکر ځای پر ځای وو. میرویس دمخه درې زره قومي ځوانان په وړو ټولیو کې پردې مامور کړي وو چې د ښار رابطه له بیرون سره تر کنترول لاندې ولري، چې ایرانیان له پېښو نه بې خبره پاتې شي. په خپله میرویس او ملګري یې په داسې حال کې چې د ګرګین او د هغه د عسکرو جامې یې په تن او وسلې یې په لاس وې، د شپې په تیاره کې ښار ته ننوتل او په بېساري چټکۍ سره یې ایرانیان یوځای بل ځای له منځه یووړل. وروسته یې له هغو دوه نیم زره عسکرو نه چې له بلوچستان نه کندهار ته ستانه شول، څه یې له منځه یووړل او نورو یې د تباهۍ خبر اصفهان ته ورساوه.

د کندهار واک په دې ډول له پېړیو پېړیو نه وروسته د لومړي ځل لپاره په ۱۷۰۹ کال کې د هغه د خپلو خلکو لاس ته ورغی. په تېره له هغه وروسته چې په ۱۷۱۱ کې د ګرجستان والي خسرو په قوماندانۍ دولس زریز انتقامي پوځ چې له اصفهان نه استول شوی و، د کندهار له کلابندۍ نه وروسته هم په غوڅه توګه مات شو، لکه چې زر وروسته یو بل ایراني پوځ هم مات شو او پر کندهار باندې د پارس د حاکمیت لاس لنډ شو.

د خپلواکۍ داعيې ته رښتين توب او له وطن نه د غاصبانو د شړلو ټينګ احساس ميرويس، نور قومي مشران او ځوانان د خپلواکۍ په جګړه کې بريالي کړل. په دې اړه تراوسه دغسې ليکنه ليدل شوې نه ده، چې څوک به خپلواکي په داعيې ټکني شوی، د ميرويس په تدبيرونو شکمن شوی او د جنګ له ميدان نه پر شا شوي وي. ددې پرخلاف ټولو پښتنو او بلوڅو هم په جنګ او هم په جرګو کې د ميرويس فکرونه او تدبيرونه په ټينګ ايمان عملي کړي دي. په اصل کې دا ميرويس و، چې په سختو شېبو کې يې هم د يوه رښتيني مشر په شان پاخه تدبيرونه ونيول او په جرګو او فصاحت سره يې قومي مشران او ځوانان د عمل لپاره وهڅول. په دې ډول ټولو د خپلواکۍ د ګټلو وياړ ترلاسه کړ او نورو افغانانو ته سرمشق وګرځېدل، چې هغوی يا د احمد شاه دراني په مشرۍ له آمو نه تر اباسين پورې خپل ټول هېواد خپلواک کړ. په دې حساب د مانجې د جرګې مشران د کندهار د خپلواکۍ او د شير سرخ د جرګې مشران د ټول افغانستان د خپلواکۍ مخکښان دي او پر ټولو افغانانو باندې يې د تلپاتې احترام حق پيدا کړی دی. اوس نو ټولو افغانانو ته ښايي چې د دوی کارنامې هر کال تجليل کړي او د دوی له وياړ نه ډک ميراث ياني د افغان د خپلواکۍ بيرغ د تل لپاره رپانده وساتي.

**یادښتونه:**

۱_ الحاج امان الله هوتک، د خپلواکۍ لمر ځرک، د هوتکو د افغاني دولت عروج او زوال، پېښور، ۱۹۸۹، ۶۰

۲_ سلطان محمد درانی، تاریخ سلطاني، بمبیی، ۱۲۹۸ هجري قمري، ۶۰ د خپلواکۍ لمر ځرک، ۶۰

۳_ تاریخ سلطاني، ۶۰

۴_ قاضي عطاء الله، د پښتنو تاریخ، پېښور، ۱۹۴۷، لومړی ټوک، ۳۹.

۵_محمد حسن کاکړ، افغان، افغانستان و مختصری از کوشش های افغان ها برای تشکیل دولت در هندوستان، فارس د افغانستان، نشریه پوهنتون کابل، ۱۹۵۷، ۵۷.

۶_ افغان، افغانستان، ۵۶

۷_ تاریخ سلطاني، ۶۸_۶۹

۸_ له دې وروسته د لیکنې په برابرولو کې له دغو آثارو څخه استفاده شوې ده. لمر ځرک، افغان، افغانستان او د لیکوالکي لیکنه د "قاید میرویس هوتک او خپلواکي" په رڼا او دفاع یا د افغانستان د نفوسو تاریخ او روانو پېښو په باب لیکنې، تنظیموونکی محمد حسن کاکړ، د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز، پېښور، ۱۹۹۹، ۱۲۳.

۹_لمر ځرک، ۴۹

۱۰_ عبدالغفار هوتک، هوتکنامه، سریزه د حبیب الله رفیع، خپروونکی پښتو یون، پېښور، ۲۰۰۰، ۵۸.

PROPERTY OF ACKU 16117

دوکتور ع، روستار تره کی

# پایه های حاکمیت ملی در عصر هوتکیان

*این مقاله برای کانفرانسی که در رابطه به دوره هوتکی در المان دایر شده بود، تحریر شده است.*

در تاریخ نوین افغانستان عصر هوتکیان لا اقل از دو لحاظ برجستگی دارد:

اول ـ طرح ریزی مبانی دولت ملی.

دوم ـ مطرح شدن دولت ملی در محاسبات سیاست منطقوی وقت.

ما هر یک این دو مورد را مختصرا مرور میکنیم:

## اول ـ طرح مبانی دولت ملی:

افغانستان عصر هوتکیان با ضوابط جامعهء قبیلوی اداره میشد. پشتونولی قانون حاکم در مناسبات اجتماعی به حساب میآمد.

دولت ملی عصر هوتکیان روی "انگیزه" های ناسیونالیزم قبیلوی و مذهب بنا شد و خشونت و قاطعیت را به خدمت گرفت.

حاکمیت ملی ایکه ابتکار استقرار آنرا در محدودهء جغرافیای طبعی افغانستان هوتکیان بدست گرفتند، دارای "شاخص" های سیاسی و کلتوری بود.

ما روی هر یک ازین دو یعنی "انگیزه" و "شاخص" اولین حاکمیت ملی در تاریخ جدید افغانستان روشنی میاندازیم:

الف _ انگیزه های تشکیل حاکمیت هوتکی: عبارتند از ناسیونالیزم قبیلوی، مذهب و خشونت سازنده.

۱_ ناسیونالیزم قبیلوی: در کشور های رو به انکشاف منجمله افغانستان، ناسیونالیزم قبیلوی همیشه در محور تشکیل ملت و دولت قرار گرفته است. قبیلهء مسلط هویت های قبیلوی کوچک را تا سرحد تشکیل هویت بزرگ ملی در خود حل و هضم کرده است. آنگاه دولت ملی در مدار کلتور، سیاست و دید اجتماعی قبیله مسلط شکل گرفته است. مظهر تاریخی این پروسه را در عصر هوتکی بدرستی میتوان تشخیص کرد: قبایل غلجی که هوتکیان شاخه آنست در امتداد جلدک قندهار تا غزنه اسکان داشتند و رهبری شانرا "سلطان ملخی توخی" بعهده داشت. "شالم خان" پدر میرویس که از بزرگان قوم بود با "نازو" نام دختر سلطان ملخی ازدواج کرد. وقتی نوبت مشرتابه قوم به میرویس نیکه رسید، سلسلهء اقتدار قبیلوی و خانوادگی بقدر کافی محکم بندی شده بود و به میرویس این توان را بخشید تا

نفوذ خود را در میان دو قبیله توخی و ابدالی تامین نماید.

قبایل غلجی از جمله هوتکیان در حالیکه دارای سابقه تاریخی نبرد با مهاجمین مغلی بودند، با درهم کوبیدن مقاومت های محلی توخی ها و ابدالی ها ساحهء حاکمیت سیاسی خود را بالتدریج از قندهار تا غزنه توسعه دادند و راه را برای ظهور حاکمیت ملی هموار کردند.

روحیهء قوی آزادیخواهی و دسپلین نیرومند قبیلوی موجب شد که ملیون افغانی در بسا نبردهایی که در داخل و خارج با قوای اشغالگر صفوی داشتند، علی الرغم تفوق کمی و کیفی (تجهیزاتی) دشمن بالای جانب مقابل غلبه کنند: در جنگ "گلناباد" ۳۰ هزار ملیون افغانی ۴۲ هزار لشکر صفوی را شکست داد.

۲ـ مذهب: برخی از تحلیل گران ایرانی تاریخ معاصر افغانستان، انگیزه اصلی قیام هوتکیان علیه دولت صفوی را تقابل مذاهب سنی و شیعه قلمداد میکنند. تلخیص مقاومت ملی افغانان به مقابله دو مذهب با واقعیت جور نمیآید. چه:

اولاً: در ترکیب اردوی افغان که به استقامت اصفهان حرکت میکرد لا اقل ۷ هزار هزاره اهل تشیع شامل بود. در لشکر کشی محمود هوتکی جانب کرمان علاوه بر پشتون های غلجی و هزاره های امامی، زردشتیان کرمان نیز به صفوف اردو پیوستند.

ثانیاً: شاه محمود پس از فتح اصفهان فرمانی در ۱۷۲۲ع صادر کرد طی ۶ ماده. در ماده ۳ این فرمان امده است " شیعه گان

دی شیعه وی او سنیان دی سنیان. مور نه پوهېږو خدای ج د چا راضي دی".

ثالثاً: مقابله ملیون افغان با شخصیت های میانجی صلح گماشته دولت صفوی از یک طرف و عساکر صفوی از جانب دیگر، نمایانگر آن بود که مقاومت ملی به چیزی کمتر از شناسایی حاکمیت ملی قانع نیست: قتل عبدالعزیز برادر و جانشین میرویس که قصد مصالحه را با دولت صفوی داشت، میتواند مظهر طغیان احساس آزادیخواهی افغان ها و خارج شدن طرح تشکیل دولت ملی از حدود تنگ تقابل دو مذهب سني و شیعه قلمداد شود.

رابعاً: میرویس نیکه صرفاً فتوای قتل گرگین حاکم صفوی را از علمای حجاز بدست آورده بود، نه فتوای سقوط دولت صفوی را. مفتی اعظم عثمانی هیچ گاهی فتوای کفر را به ادرس دولت صفوی حواله نکرده بود. بناً تشکیل حاکمیت ملی در قندهار و لشکر کشی ملیون افغانی به قصد سرنگونی دولت صفوی، بدرستی تقابل ناسیونالیزم افغانی را با هژمونیزم صفوی نمایان میسازد، تا مقابله مذهب سني را با شیعه.

۳_ اعمال خشونت سازنده: در تاریخ سیاسی قرن ۱۸ و ۱۹ افغانستان هیچگاهی با رقبای سیاسی "کامپرومایز" و مصالحه نشده است. تشکیل حاکمیت در رده های بالایی دولت از یک خانوادهء یک قوم و قبیله و یک مذهب، چنین است راز استحکام اولین دولت ملی در تاریخ نوین افغانستان. تجانس این دولت را که با ضوابط دیموکراسی قبیلوی (جرگه و مرکه)

شکل گرفته بود، خانواده، قوم و مذهب واحد تضمین میکرد. ارزش های دیموکراسی که امروز بزور سوته بر قامت خمیدهء ما بار شده است، در آن روزگاران حتی با دوربین و تلسکوب هم پیدا نبود. در رده های زیرین حاکمیت سایر اقوام از دل و جان با رأس حاکمیت هم نظر و همگام بودند. چنه زدن برای قبضه به اصطلاح کرسی های کلیدی حاکمیت اعلان جنگ با دولت و اخلال امنیت تلقی میگردید. به هر آنچه که تجانس خانواده، قوم و مذهب را در سطوح بالایی ادارهء حکومتی اخلال میکرد بدیدهء سوءظن نگریسته میشد. این سوءظن انگیزه خشونت مشران اداره حکومت در برابر رقبا میشد. خشونت نظر به اهمیت رقبای سیاسی شیوه های رنگارنگ بخود میگرفت. شکل عادی آن کور کردن و قطع اعضای بدن و شکل نهایی آن قلع و قع فزیکی حریف بود.

در پایه گذاری اولین حاکمیت ملی در دورهء مشرتابه میرویس نیکه صدها تن رقبای سیاسی از هستی ساقط شد. هزاران تن محافظین گرگین حاکم جبار صفوی که به خون خواهی روانه قندهار شده بودند، ضربه فنی گردیدند. ملیون افغانی حتی بر "جامی جان" قاصدی که از سوی دولت صفوی برای مصالحه فرستاده شده بود، رحم نکرده وی را زندانی نمود.

اما خشونت وقتی نتیجه مطلوب برای استحکام حاکمیت بدست داد که توام با تدبیر سیاسی، عدالت و انصاف گردید. اوایل سلطنت شاه محمود هوتکي نمونهء بر جسته تظاهر

عدالت در سیاست است.

محمود هوتکی استقامت خشونت خود را بسوی درباریان فاسد صفوی عیار کرده بود که با خود کامگی، بیرحمی و خون ریزی، کارد را به استخوان مردم رسانیده بودند. با این کار مردم فارس لا اقل در آغاز کار از حاکمیت افغانی راضی بودند.

بناً قاطعیت، خشونت و عدالت راه را برای تشکیل اولین حاکمیت ملی در تاریخ نوین افغانستان باز کرد.

ب_ شاخص های سیاسی و کلتوری حاکمیت هوتکیان:

۱_ جرگه قومی: برجسته ترین افزار دیموکراتیک سیاسی اتحاد نظر و عمل اقوام مختلف در استقامت تصمیم گیری های بزرگی است که در مواردی حدود تطبیق تصامیم آن از محدودهء قبیله و قوم و منطقه بیرون شده و بیک ضابطه ملی تبدیل میگردد.

در پهنه تاریخ اصولاً موجودیت رسم مرکه و جرگه به مثابه ظرف کانالیزه کنندهء احساسات محلی به بستر جذبات ملی، تشکیل دولت ملی را در کشور بمقایسه برخی ممالک همسایه و هم منطقه به جلو انداخت. بناءً تاثیر آن در شکل گیری دولت ملی بیشتر از عوامل دیگر است.

در عصر هوتکیان اولین جرگه ملی در "کوکران" (غرب قندهار) در کنار ارغنداب دایر شد که طی آن میرویس نیکه جواز جنگ علیه دولت صفوی را بدست آورد.

جرگه دوم در مانجه (شرق قندهار) تشکیل شد، این جرگه

تظاهر اتحاد و همبستگی ملی اقوام هوتک، نورزایی، بړیځ، الکوزی، کاکړ وغیره است.

جرگهء مانجه بدلیل اینکه در آن وثیقهء اعلام استقلال امضا گردید و به قرآن سوگند یاد شد و نهایتاً به مرحله ابتدایی شکل گیری حاکمیت ملی قاطعیت بخشید، گام بزرگ در تثبیت هویت ملی به حساب میآید.

۲ـ ضابطه های اخلاقی و کلتوری: رهبران اولین حاکمیت ملی در تاریخ معاصر افغانستان، مردمان با تقوا، عادل، منصف و بیک کلمه دارای قدرت بینظیر اخلاقی برای نفوذ در قلب و دماغ ولس بودند. این اوصاف در تحکیم اتوریته حاکمیت ملی اثرات و بزرگی به جا گذاشت و هوتکیان را قادر ساخت سه دهه حکومت کنند. میرویس شخص متفکر و دیپلومات بود، از اوضاع سیاسی منطقه اطلاع داشت و با کم و کیف در بار صفوی آشنا بود. با مردم به مثابه پدر مهربان برخورد میکرد. در کندهار تا کنون مردم او را بابا میگویند و مزار او مانند یک قطب زیارت خاص و عام است.

شاه محمود شخص دلاور و متقی بود. منظماً قرآن میخواند و عبادت میکرد. وی به تصوف گردیده بود. تعصب مذهبی نداشت، هزاره های امامی در جملهء محافظین شخصی او بودند. نصرالله یکی از جنرالان ورزیده او زردشتی بود.

شاه اشرف که مادرش از جملهء حکمرانان توخی بود، اخلاق اشرافیت قبیلوی را تمثیل میکرد. وی انضباط عسکری شاه محمود و تدبیر سیاسی میرویس را در وجود خود جمع کرده بود.

حاکمیت هوتکیان به موازات تقویت بنیهء نظامی و فتوحات در داخل و خارج به انکشاف مبانی کلتوری یک دولت در حدود امکانات آنوقت بذل مساعی نمود.

اصلاً هوتک سر سلسله قبیلهء هوتک شخص ادیب و شاعر بود. پته خزانه از اشعار وی نقل قول کرده است. ده ها دانشمند، شاعر و مولف پشتو در دورهء هوتکیان ظهور کرد. کتب پته خزانه (بقلم محمد هوتک)، ارکان خمسه، جامع الفرایض، گلدسته زعفرانی، محمود نامه (در شرح فتوحات محمود)، محاسن الصلوات، نافع المسلمین وغیره در همین دوره تالیف گردید.

شاه اشرف برا تدویهن کتابی بنام تذکره الملوک حکم صادر کرد که امروز منبع بزرگی در تاریخ فارس بحساب میاید.

شاه حسین، عالم و ادیب بود و در قصر شاهی نارنج شهر قندهار مجالس ادبی ترتیب میکرد و علما و گویندگان را تشویق مینمود. میان عبدالحکیم کاکر پیشرو طریقه نقشبندی از متصوفین همین دوره بود.

دوم ـ مطرح شدن دولت ملی افغانستان در محاسبات سیاست منطقوی:

حاکمیت هوتکی ها و اولین امپراتوری تاریخ نوین افغانستان در نخستین سال ظهور خود در تقابل با دو امپراتوری تیموری ها در هند و عثمانی ها در شرق میانه عربی قرار گرفت. خبر اعلام استقلال افغانستان برای هر دو امپراتوری خوش آیند نبود. تیموری های هند از توسعهء دامنه امپراتوری افغانی در

شمال شبه قاره هند می هراسیدند. خلافت عثمانی ازین اندیشه داشت که سلاطین هوتکی که خود را امیرالموءمنین خوانده بودند، در همنوایی با اعراب ناسیونالیست طومار خلافت عثمانی را درهم بپیچد آنهم در شرایطی که دولت عثمانی در گیر رقابت های استعماری در منطقه با روسیه تزاری بود.

از آن جاییکه تثبیت موقعیت سیاسی افغانستان در میان کشورهای منطقه بدون شناخت بین المللی امکان پذیر نبود. میرویس نیکه برای دفع دشمنی این دو امپراتوری سومین جرگه قومی را که در آن همه اقوام مطرح در سیاست افغانستان عضویت داشتند، فرا خواند.

با درایت میرویس نیکه مناسبات عادی میان قندهار و دهلی برقرار شد: حاجی "امکو" برادر میرویس به سمت سفیر افغانستان در دهلی منصوب شد. "فرخ سیر" شاه تیموری هند حاکمیت ملی افغانستان را به رسمیت شناخت. این شناخت موضع افغانستان را در منطقه تقویت کرد و بعداً یکی از انگیزه های موفقیت دیپلوماسی شاه اشرف در برابر دولت عثمانی گردید.

خلافت عثمانی در برابر امپراتوری هوتکی ها مشی نیش و نوش را دنبال میکرد. خلافت از یک طرف خود را معروض به تهدید امیرالمومنین افغانی میدید، بنا میل نداشت که امپراتوری افغانی در فارس ریشه دارو پایه دار باقی بماند. از جانب دیگر حاکمیت افغانی را بدلیل اینکه موجبات سقوط امپراتوری صفوی، دشمن دیرین ترک ها را فراهم کرده بود،

تقدیر میکرد و انرا وزنه مقابل پیشروی تزارهای روس در جنوب میدانست. شاه اشرف پس از ۹ ماه مذاکره در سال پنجم سلطنت، معاهدهء صلح همدان را در ۱۷۲۷م با ترک ها به امضا رسانید که طی آن فارس میان دو امپراتوری افغان و ترک تقسیم شد. "راشد پاشا" بحیث سفیر ترکیه به اصفهان آمد و محمد علی بلوچ بعنوان سفیر افغانی بدربار عثمانی گسیل شد. در واقع با شناخت بین المللی، اولین حاکمیت ملی در تاریخ افغانستان نوین، به حاکمیت دولتی تغییر قیافه داد و راه برای استقرار دولت های ملی بعدی از جمله دولت ابدالی باز شد.

***نتیجه:***

ـ در قلمرو ملی، قبل از ظهور دولت هوتکیان حاکمیت های ملی دیگری وجود داشت که حینیکه شعاع نفوذ آن بر کشورهای همسایه از جمله فارس میتابید، شکل امپراتوری را بخود میگرفت. بناً این نظر مؤرخین مغرض ایرانی که اولین دولت ملی تاریخ نو افغانستان از انتزاع امپراتوری صفوی پا به عرصه وجود گذاشته است، درست نیست. اصولاً ملیون افغانی با عقب راندن قوای اشغالگر صفوی استقلال ملی را که با نفوذ اجانب از دست رفته بود، احیا کرد.

ـ برخی مؤرخین صاحب غرض ایرانی با الفاظ سبک، لشکر کشی افغان ها را در حد چور و چپاول و دسترسی به غنایم جنگی خلاصه کرده آنرا از یک داعیهء بزرگ تشکیل امپراتوری افغانی تهی میسازند. اگر چنین میبود باید پیشروی

افغان ها در فارس با بدست آوردن غنایم عظیم جنگی در گلنابادء به پایان میرسید. ادامه فتوحات تا حصول تاج امپراتوری صفوی نشان داد که دولت نو بنیاد افغانی در امتداد احیای تاریخ و مفاخر ملی ظهور کرده است.

ـ اولین دولت ملی و امپراتوری در عصر هوتکی ها، غرور ملی از دست رفتهء افغان ها را که با تهاجم بیگانگان چون مغل ها و صفوی ها جریحه دار شده بود، احیا کرد و نهایتاً راه را برای ظهور امپراتوری ابدالی باز نمود.

ـ دولت ملی ایکه هوتکیان قریب ۳۰۰ سال قبل با تدبیر و شمشیر واهدای هزاران قربانی به پیشواز رستاخیز ملی، اساس گذاشته بودند، امروز در گیر و دار بحران هویت ملی که شراره های آن دامان مادر وطن را در حال سوختن است، سخت معروض به نابودی شده است.

فرزندان میرویس و احمد شاه در برابر توطئه های داخلی و خارجی ایکه قصد ریشه کن کردن درخت تنومند سه صد ساله هویت افغانی را دارند، موضع صرفاً دفاعی گرفته اند. آنها از چینل کانفرانس ها به افتخارات گذشته و تاریخ مبارزات ملی عاجزانه چشم امید دوخته اند.

سوال حیاتی اینست که ایا میتوان با قرار گرفتن در موضع پاسیف دفاعی، دشمنان هویت ملی و افغان را از تعرضات مکرر بر نوامیس ملی باز داشت؟

پاسخ هر چه باشد واقعیت غیر قابل انکار اینست که تاریخ ملی افغانستان با ریختاندن اشک بر افتخارات تاراج شده، با

وعظ و نصیحت، با قرائت مقالات جذباتی و اشعار حماسی در تالار های مجلل کانفرانس ها و نهایتاً با غوغای دیموکراسی شکل نگرفته است.

تاریخ ملی افغانستان با الهام از قرآن، با زور شمشیر و احساس قوی و آئین وطن دوستی در میدانهای جنگ و جرگه ها و مرکه ها فورمولبندی شده است:

د افغان په ننگ مې وتړله توره

ژوندی دی وي افغانستان.

## ماخذ:


۱_ عبدالحی حبیبي، تاریخ مختصر افغانستان، پشاور، ۱۹۸۹.

۲_ علی احمد کهزاد، تاریخ افغانستان، کابل ۱۹۴۶

۳_ عباس اقبال، تاریخ مفصل ایران، تهران، ۱۹۳۲

۴_داکتر حسن کاکړ، افغان، افغانستان، پشاور، ۱۹۸۸

۵_عبدالروف بېنوا، هوتکیان، کابل، ۱۹۵۷

۶_ جان ملکم، تاریخ فارس، لندن ۱۹۲۹ ( ترجمه فارسی ایرانی)

۷_ لاک هارت، سقوط صفویان، کمبرج، ۱۹۵۸ (ترجمه فرانسوی)

محمد معصوم هوتک

# په اتلسمه پېړۍ کې
## په اصفهان کې د مسیحي سیاح یادښتونه

عیسویان وایي چې پارس ته مسیحیت په لومړۍ میلادي پېړۍ کې رسېدلی و. د دوی په نظر د مسیحیت پخواني ریکارډونه ښیي چې د پیټر او تامس په نومونو دوو تنو د حضرت مسیح تعلیمات پارتیانو ته په لومړۍ میلادي پېړۍ کې تبلیغ کړل او د میسوپوتامیا Mesopotamia او پارس قبایل یې په انجیل باندې خبر کړل. میسوپوتامیا یو لرغونی نوم دی او په دې سیمه کې د اوسني عراق او فلات ایران زیاتې برخې شاملې وې. شمالي پوله یې د ارمینیا غرو ته رسېدله او جنوبي سرحد یې د پارس خلیج و. وی د سیریاک Syriac اسنادو له مخې وایي، چې د دریمې میلادي پېړۍ په پیل کې په دغه سیمه کې

درې سوه شپېته کليساوې موجودې وې. وايي پارتي شاهان د نورو اديانو په وړاندې پراخ نظري وو او له همدې امله مسيحيت ورو ورو د نوموړې امپراتورۍ په بېلا بېلو برخو کې پرمختګ وکړ. کله چې په روم کې د مسيحيانو تعقيب او ځورونه پيل سوه، زياترو يې پارس ته پناه يووړه، خو سره له دې چې د سيمې ډېرو اوسېدونکو مسيحي دين منلی و، بيا هم زردشتي دين د پارس د خلکو د اصلي دين په توګه پاته و.

د ساسانيانو په دوره کې (۲۲۶_۶۴۱ع) کې مسيحيت ته په کرکه کتل کېدل او د هغه ستر رقيب زردشتي دين په غوره کې و. ساساني پاجهانو په مجموع کې زردشتي دين پاله خو له دې سره سره يې د مسيحيت په وده کې ری نه واهه. دې وضعې د دوهم بهرام تر دورې (۲۷۶_۲۹۳ع) پورې دوام وکړ. دده په زمانه کې پر مسيحيت ځمکه تنګه سوه او د امپراتورۍ په ټول قلمرو کې د مسيحيت د پيروانو تعقيب پيل سو. تر دې وروسته نو بيا د صفوي واکمن شاه عباس تر وخته مسيحيت د يو مغلوب دين په توګه موجود و. په ۱۹۰۳ع کې د ارمنيانو ځينو مشرانو شاه عباس ته د عثماني ترکانو له لاسه عرضونه وکړل. شاه د عثمانيانو د مخنيوي په پلمه پر ارمنيا باندې يرغل وکړ. د پارسيانو او عثماني ترکانو په جګړو کې، چې د صفوي شاهانو د واکمنيو په دوران کې روانې وې، مسيحيانو ته درانه تاوانونه ورسېدل او مسيحي دين ورو ورو ورسره کمزوری سو. په دې سيمه کې د مسيحيت له کمزورۍ سره سم د عيسوي مبلغينو فعاليت پيل او سيمې ته د هغوی ورتګ شروع سو. ددې

مبلغينو لومړۍ ډله د ديارلسم او څوارلسم ميلادي قرن په اوږدو کې مرکزي اسيا او د پارس حدودو ته ورسېدله، خو کوم برياليتوب يې په برخه نسو. دا حالت همداسې روان و، چې د اوولسمې پېړۍ په سر کې د پارس پاچا شاه عباس کبير له اروپا سره د دوستانه اړيکو د ټينګولو په لټه کې سو. دې وضعې کاتوليکو ډلو ته د تبليغ زياتولو نوې زمينه برابره کړه. د دوی لومړۍ ډلې ته شاه عباس ښه راغلاست ووايه. هغوی ته يې پخپل ټول قلمرو کې د مرکزونو جوړولو اجازه ورکړه او اصفهان په دغه وخت کې د مسيحي مبلغينو پر يوه غټ مرکز بدل سو. دوی د خپل تبليغ ساحه په ارمنيانو کې پراخه کړه او د لومړي ځل لپاره يې په مسلمانانو کې هم په خلاصه ښه فعاليت پيل کړ. په دې مبلغينو کې ډېر مهم سړی Father de Rhodes نومېدی. دا سړی دومره شهرت ته رسېدلی و، چې وايي کله چې مړ سو (۱۶۴۶ع) پاچا او د اصفهان زياترو درباريانو يې په جنازه کې برخه واخيستله.

د سلطان حسين صفوي (۱۶۹۴_۱۷۲۲ع) د پاچهۍ شېبې و ورځې د مسيحيانو لپاره ښه وخت نه و. څرنګه چې سلطان د افراط تر پولې مذهبي پابندۍ پاللې، نو دده په وخت کې د مسيحيانو تعقيب بيا پيل سو. مسيحي مبلغين له هېواده وتلو ته اړ ايستل سول او پر زرګونو مسيحيانو باندې امر وسو، چې يا له وطنه ووځي او يا له خپله دينه لاس واخلي[1]. کروسينسکي، چې زموږ همدا ليکنه دده پر يادښتو روښانه اچوي، په همدې وخت کې په اصفهان کې د مسيحي مبلغ په توګه مېشت و.

اروپايي خبرونکي د کروسينسکي د ژوند ليک د ليکلو پر وخت له يو څه ستونزو سره مخامخ وو او دا ځکه چې دده نوم او د بريتانيکا په مشهور دايره المعارف (Encyclopedia Britanica) او دې ته ورته نورو قاموسونو کې لا هم نه و ثبت سوی. دده د يادښتو انګليسي مترجم Geore Newnham Mitford ليکي، چې ده د کروسينسکي ژوند ليک له Biographie Universelle (د ۱۸۱۱ع کال د پاريس چاپ_ څخه برابر کړی دی د ميتفورډ پر ليکنه باندې د (سرنامهٔ کروسينکسي) د سريزې ليکوالې ډاکتر مريم مير احمدي نوري څېړنې کړي دي، چې ددغو څېړنو او زما د يو لړ نورو يادښتونو نچوړ (لب لباب) داسې راوځي:

تادوزيو دا کروسينسکي (۱۶۷۵_۱۷۵۶ع) د پولينډ اوسېدونکی و او د ۱۶۷۵ع کال د مې پر شپږمه نېټه ددغه هېواد د Cujavia په Brzese نومي ښارګوټي کې زېږېدلی دی.[۲] دغه ښارګوټی د پولېنډ د ګاليسيا Galicia په سيمه کې پروت دی. کله چې روسانو په ۱۹۳۹ع کال کې پر ختيځ پولېنډ باندې قبضه ولګوله، دغه ښارګوټی د پخواني شوروي اتحاد په قلمرو کې شامل سو[۳]. ډاکتر مريم مير احمدي د (سفرنامهٔ کروسينکسي) په سريزه (۸مخ) کې دغه ښارګوټی د پولېنډ د کراکوی په شمال ختيځ کې پروت بللی دی. کروسينکسي په ځوانۍ کې کاتوليک مذهب ومانه (۱۷۰۷ع) او پارس ته د مسيحي مبلغينو له ډلې سره ولاړ او په اصفهان کې يې واړول. پارس ته دده د سفر په وخت کې د هغه هېواد واکمني د صفوي پاچا سلطان حسين په لاس کې وه. کروسينسکي په

ځواني کې لا ختيزې ژبې (تورکي، پارسي او غالباً عربي) زده کړې وې او په حقيقت کې د همدې ژبو زده کړې پارس ته دده د استولو لار اواره کړه. ددې مهارت له امله يې د خپلو مذهبي لويانو پاملرنه ځانته واړوله او کار يې دومره پرمخ ولاړ، چې په ۱۷۲۰ع کې د پارس د مبلغينو د ډلې مشر -Procurator General وټاکل سو او ورسره سم د اصفهان د اسقف فرانسيسکو برنابيتا Francesco Bernabita د منشي او ترجمان په توګه مقرر سو. ده په دې مقام کې له ځانه دومره وړتيا وښودله، چې ډېر ژر يې د يوولسم پاپ کليمينټ او د فرانسې د امپراتور څوارلسم لويي د استازي د منشي او ترجمان په توګه تفليس او ګنجې ته د کاپوچي مبلغينو د هيئت د ستونزو د اوارولو لپاره سفر وکړ. ده په دې نوي ماموريت کې ډېر کفايت څرګند کړ او په نتيجه کې يې په پارس کې د استوګنې موده پسې اوږده سوه.

کروسينسکي د شاه محمود هوتک له خوا د اصفهان د کلابندۍ په وخت کې په دغه ښار کې و او هغه انقلابي خوځښتونه يې پخپلو سترګو وليدل، چې په نتيجه کې يې په پارس کې صفوي واکمنۍ پای ته ورسېده او پارس د افغانانو له خوا فتح سو. ده له يوې خوا د پارس له صفوي دربار سره پخواني اوږده اړيکې درلودل او له بله پلوه يې د شاه محمود هوتک په لښکر کې د طبيب دنده هم سرته رسوله [۴] کروسينکسي به غالباً د ارمني کشيشانو په هغه ډله کې شامل و، چې د شاه محمود هوتک د دماغي ناروغۍ د سختۍ په وخت کې د علاج لپاره رابلل سوي وه.

۱_ افغانها مردمان سلحشور و آزادی خواهی اند که هرگاه نیروهای بیگانه بر کشور و سرزمین شان تجاوز کند، موقتاً سوز و درد ناشی از تجاوز را تحمل میکنند، ولی هرگز تا اخر نمیتوانند یوغ ذلت و خواری و بردگی متجاوز را بر گردن خود حمل کنند. سرانجام به پا بر میخیزند و انتقام آن همه بی احترامی و هتک حرمت و غارت و چپاول را از متجاوز میگیرند.

۲_ درس دیگری که از طغیان محمود افغان بر ضد استبداد مذهبی صفوی می باید گرفت، اینست که شاه محمود اگرچه برای سلطنت و ادارهٔ یک کشور بزرگ چون ایران، هنوز بسیار جوان بود و برای مملکت داری تجربه یی (بجز چهار پنج سال ادارهٔ قندهار) نداشت، مگر به مردم خود ثابت ساخت که جوانان کوهسار افغانستان اگر بخواهند، توانایی راه اندازی یک قیام عمومی یا یک شورش ضد استبدادی و ضد بیگانه را بخوبی دارند و آن را تا پیروزی بر دشمن میتوانند رهبری کنند.

۳_ نکته دیگری که در این ارزیابی می بایستی بدان اشاره

کرد، اینست که گویی تاریخ رسالت عظیمی بر دوش شاه محمود افغان گذاشته بود تا طومار سلطهء رژیم مستبد و خون آشام صفوی را که با رسمی ساختن مذهب شیعه دشمنی شدیدی را با پیروان سایر مذاهب اسلامی و ادیان دامن زد؛ و به این بهانه خون صدها هزار انسان بیگناه هموطن را محض به بهانه داشتن مذهب غیر شیعه بر زمین ریخته بود، درهم بپیچد و به زباله دان تاریخ بسپرد. شاه محمود با این کار خود گریبان میلیونها انسان زحمت کش ایرانی و افغان را از چنگال شاهان بی رحم و سفاک و بیکفایت صفوی برای ابد کوتاه ساخت. رژیمی که در طول ۲۲۵ سال تسلط خود، از آغاز تا انجامش بخون ریزی، بیرحمی، برادرکشی، فساد و تزویر و خودکامگی مطلق گذشت... رژیمی که زنده کباب کردن، انسان را در دیگ جوش انداختن، شکم دریدن و با تبر دو نیم کردن و مقصر را زنده پوست کندن و گوشت دشمن را خام خوردن، محثله کردن و معیوب ساختن انسانها از ابتکارات او بود. رژیمی که شاهان آن در عین ادعای مردی و پیشوایی با سفاکی و بیرحمی، حتی بر زن و فرزندان و برادران خود رحم نمی آوردند.

مؤسس سلسله صفویه شاه اسماعیل صفوی، سلطنتش را با کشتن بیست هزار سنی که زبان به لعن سه خلیفهء اول باز نکرده بودند در تبریز آغاز کرد و وقتی رهسپار مشهد شد، قزلباشان او در طبسین هشت هزار مرد را بجرم نپذیرفتن مذهب شیعه از دم تیغ گذراندند تا عطش خون ریزی شاه اطفاء

یابد. شاه عباس اول دو برادرش را با یک برادر زاده و عمویش کور کرد. سپس دو پسر خود (محمد میرزا و امامقلی میرزا) را کور و سومی (صفی میرزا) ولیعهد را نیز بطرز فجیعی به قتل آورد. آخرین پسرش که طاقت کوری را نداشت خودکشی کرد. و بدین ترتیب هیچ فرزند ذکوری از شاه عباس باقی نماند. پس وقتی عادل ترین پادشاه این سلسله با نزدیک ترین کسان خود چنین کرده باشد، تکلیف دیگران معلوم است که چگونه بوده میتوانستت. جانشین شاه عباس اول، پسر صفی میرزا به نام سام میرزا، در سفاکی دست کمی از جد بزرگش شاه اسماعیل نداشت. او در طول ۱۴ سال سلطنت خود بدون وقفه آدم کشت و این کشتار را از نزدیکان خود شروع کرد. او زن و مادر خود را نیز کشت و در یک شب بدمستی فرزند شیر خوار خود را بدرون آتش انداخت.[۲۴] پسر شاه عباس دوم بنام صفی میرزا که بعد از تاج گذاری خود را شاه سلیمان نامید، از همان آغاز جانشینی عدهٔ زیاد ی‌از اعیان و اشراف دربار و رهبران نظامی را از دم تیغ گذرانید و در باده پیمایی چنان شهرت یافت که شاردن در سفرنامهٔ خود در بارهٔ او نوشت: "نمیتوان باور کرد که تحمل این پادشاه در باده نوشی تا چه اندازه است. اطمینان دارم که در همه سویس و آلمان با همه شهرت مردمشان به میخوارگی، کسی پیدا نمیشود که از این حیث با او برابری کند."[۲۵]

با در نظر داشت این همه فساد و نارواییها و اجحاف و استبداد مذهبی و سیاسی و فرهنگی‌و بایستی مردم ایران و

بخصوص اقلیت های مذهبی، طغیان محمود افغان را برای سقوط دولت صفویه به فال نیک گرفته باشند، زیرا نجات ایران از دست فاشیزم مذهبی دولت صفوی از توان ملت ایران خارج بود، هر چند که قیامهای اقلیت های مذهبی در اطراف و اکناف کشور ایران در تمام دورهٔ حکومت شاه سلطان حسین بوقوع می پیوست، مگر رهایی از آن کار آسانی نبود. چنانکه امروزه نیز نجات ملت ایران از سلطه روحانیت شیعه کار آسانی نیست و از ربع یک قرن است که روشن فکران و دگر اندیشان ایران تلاش میورزند تا رژیم آخندی ایران را با گفتار و نوشتار و راه اندازی تظاهرات به کناره گیری از حکومت وادار کنند، ولی رژیم دست بردار شیوهٔ حکومت بسبک ولایت فقیه نیست، بدون تردید بسیاری از دگر اندیشان و روشنفکران ایرانی بشمول طیف وسیع مردم و نسل جوان ایران چشم انتظار فرصتی اند که دستی از غیب بیرون آید و کاری بکند. و اگر چنین دستی پیدا بشود و برای نجات ملت ایران کاری بکند آیا ملت باید از آن متشکر و سپاسگزار باشد، یا اینکه آن ناجی را محکوم کنند؟

۴_ ما نمی گوئیم که افغانهای فاتح اصفهان بسیار بهتر از عمال و کارگزاران صفوی بر قندهار و هرات و طبسین عمل کرده اند، اما چنانکه کروسینسکی میگوید: "شاه محمود، در آغاز شخص با نشاط و معتدل بود و یکی از کارهای نخستین او در مسند پادشاهی ایران، عمل انسانی وی در حمل آذوقه برای مردم قحطی زده اصفهان بود. در ماههای اول سلطنت خود با

میانه روی که مایه اعجاب ایرانیان شده بود، فرمانروایی میکرد... و بالنتیجه ایران در اوایل سلطنت محمود از حکمت برتر از آنچه در نیم قرن گذشته داشت، برخوردار گردید." و در اداره امور جدا متوجه بود که کارمندان از مردم رشوه ستانی نکنند و گفته میشد، حکومت جدید بهتر از گذشته عمل میکند. البته قشون فاتح هنوز ظلم و ستم و ناروائیهای که از جانب عمال صفوی و با تجویز روحانیت شیعه در طول دورهٔ استیلای صفوی بر مردم قندهار اعمال شده بود، فراموش نکرده بودند، و بخاطر آوردن آن گذشته تلخ و ناهنجار، طبیعتاحس انتقام کشی را در افراد مهاجم و فاتح تقویت می بخشید و موجب بروز خشونت و اعمالی شد که خوشبینی روزهای نخستین فتح اصفهان را از میان برد و متناسب با عملکرد فاتحان، کینه و نفرت مردم ایران را نسبت افغانها بیشتر و بیشتر ساخت و آنها را وادار به مقاومت نمود و سرانجام به شکست اشغال گران انجامید.

فراموش نباید کرد که تبلیغات روحانیت سنی در شدت عمل فاتحان بر مردم ایران بی تاثیر نبوده است، چه روحانیت سنی حجاز برای حاجی میرویس خان پدر شاه محمود فتوی داده بودند که: "اگر مسلمانی یک مسیحی محارب را بکشد، یک ثواب کرده است، اما کسی که یک ایرانی (شیعه) را بکشد، ثوابی کرده است که اجر آن هفتاد بار بیشتر است."[۲۶] بر مبنای این فتوای شرعی، قشون فاتح اگر کشته اند یا غارت کرده اند و مال مردم را به غنیمت برده اند، در واقع بدستورات مذهبی

خود عمل کرده اند، همانگونه که سربازان قزل باش، بدستور مرشد اعظم شاه اسماعیل و فتوای روحانیت شیعه که حکم داده بودند: "ثواب قتل یک سنی مقابل ثواب قتل پنج کافر حربی است. نکاح با سنی مجاز نیست. خون شان هدر و مال شان حلال است و واجب است که شکم زنان حامله آنها را شگافته بچه های ذکور شان را نیز به نیزه زنند. خرید و فروش سنیان نیز حلال است، زیرا که خارج از حریت اسلامیه اند."[۲۷] اهل تسنن را شکم دریدند یا با تبر دو نیم کردند و یا در آب جوش انداختند و یا زنده پوست کندند و...

اجازه بدهید بپرسیم که در کجای این فتواهای فقهی، عدالت اسلامی و انصاف خداوندی و رحم و شفقت انسانی وجود دارد؟ کدام عقل سلیم و وجدان طیبی میتواند بپذیرد که کشتن یک مسلمان توسط مسلمان دیگر و به سر نیزه کشیدن کودک حتی در شکم مادر، یک امر شرعی و اسلامی است و مرتکبین آن مستوجب ثواب و رفتن به بهشت خواهد بود؟ ما به عنوان انسانهای روشنفکر که از مدتیست در مدینه فاضله دموکراسی، در غرب بسر میبریم و می بینیم که در این جوامع هر کس با هر عقیده و هر دین و هر آئین، در کنار هم زندگی میکنند و هیچکسی بخود حق نمی دهد تا کسی را بخاطر اختلاف دین، عقیده، جنسیت، ملیت یا رنگ بچشم حقارت ببیند و توهین کند، احیاناً اگر برای ما یک چنین فتوای صادر شود که برای کمایی ثواب هر کجا سنی یا شیعه و یا پیروان ادیان دیگر را یافتید بکوشید تا در آن دنیا بهشت نصیب تان

بشـود، آیـا از چنـین دسـتور مـذهبی پیـروی خـواهیم نمـود، فکـر میکنم هرگز نه، مگـر آنکـه بیمـار روانـی باشـیم. پـس چـرا در ایـران عهد صفوی و ترکیه عثمـانی پـس از اعـلام مـذهب شـیعه بـه عنـوان مـذهب رسـمی، چنـین کشـتارهای مقـدس صـورت گرفـت و چـرا هیچیک از پیشوایان مذهبی و دینی مانع این جنایات نشدند؟

دکتر شفا دانشمند ایرانـی بـدین بـاور اسـت کـه:"از زمـان تـالیف و انتشـار "اصـول کـافی" تـا امـروز، هـزاران حـدیث کوچـک و بـزرگ در مـذمت اهـل تسـنن و تـوهین بـه معتقـدات و مقدسـات آنهـا در کتـب احادیـث و روایـات شـیعه نقـل شـده اسـت. شـیخ الاسـلام مـلا محمـد بـاقر مجلسـی قهرمـان مبارزه باتسـنن در عهـد شاه سـلطان حسـین صـفوی، کـه همـه تـلاش خـود را صـرف آزار و اذیـت سـنیان ایـران کـرد، بـه تنهـایی بـیش از هـزار حـدیث در ذم سـنیان از خـود بیـرون داد. البتـه ایـن دشـمنیها و اتهامـات جنبـه متقابل خـود را داشـت و روحانیـت سـنی ترکیـه عثمـانی در صـدور فتواهــای زشــت تــر از ملاهــا و شــیوخ شــیعه دســت کمــی نداشتند.(۲۸)

واقعیـت ایـن اسـت کـه "دکانـداران دیـن" کـه علـت وجـود و هستی خـود را در گـرم داشـتن تنـور اختلافـات مـذهبی میجسـتند، سبب این همه دشـمنیها و اعمـال غیـر انسـانی شـده انـد. نگـاهی بـه تاریخ مـذاهب اسـلامی روشـن میسـازد کـه در طـول تـاریخ پیـدایش مـذاهب و فـرق، رهبـران و پیشـوایان هـر یـک از مـذاهب و فـرق اسلامی، تنها پیـروان خـود را مسـلمانان راسـتین گفتـه و فـرق دیگـر را مشرک و زندیق و کـافر شـمرده انـد. و وقتـی بـر گـروه مخـالف

خود غالب آمده اند، از هیچ عمل وحشیانه در حق طرف مقابل دریغ نورزیده اند و بر سر آن اعمال غیر انسانی خود، کلاه شرعی گذاشته و طرف را مستوجب اشد مجازات دانسته اند. پس عامل و علت اصلی این همه افتراق و اختلاف و خونریزیها، رهبران و پیشوایان فرق و مذاهب اسلامی اند که پیروان خود را بجای اینکه درس برادری و برابری و نوع پروری و انسان دوستی و احترام متقابل بدهند، ولااقل بگویند: کسانیکه پیغمبر شان یکی و کتاب شان یکی است، همه پیرو یک دین اند و فرقی از همدیگر خود ندارند، برعکس با تردید باورها و معتقدات فرقه های دیگر، درس نفاق و کینه توزی و دشمنی داده اند و مردم خوشباور و ساده لوح را به جان هم انداخته اند و خود سود برده اند. تا امروز هم آنکه روغن بریز بر آتش اختلاف و دو پاره گی عقیدتی بوده و هست، روحانیت متنفذ (شیعی و سنی) است که برای منافع و صلاح کار خود، از دین فروشگاه پر مشتری و یک سوپر مارکیت پرسودی ساخته که در آن با تزویر و ریاکاری متاع ثواب و گناه و سند رفتن به بهشت در برابر انجام عمل غیر انسانی و تروریستی داده میشود و با ایجاد درهٔ تنافر میان فرقه های مختلف اسلامی، نمی گذارد مردم مثل انسان های خِرد ورز و عاقل شرافت مندانه در کنار هم زندگی کنند و انرژی و توان خود را در جهت ارتقای سطح زندگی خود و همنوعان خود بکار گیرند و از مزایای آن لذت ببرند.

فرزانگان فرهیختهٔ دیار ما در دوران اسلامی، از دوئی و دو

رنگـی بیزارانـد و نکتـه هـای نغـز و پرمغـزی دارنـد کـه شـنیدن و خواندن آن آموزنده است، از زبان مولینا بشنویم که میگوید:

دوئی از خود برون کردم، یکی دیدم دو عالم را
یکی جویم، یکی گویم، یکی دانم، یکی خوانم.

عارف فرزانه فریدالدین عطار در اسرارنامه میگوید:

زنـــادانی دلـــی پـــرزرق و پـــر مکـــر
گرفتـــار علـــی مانـــدی و بـــوبکر
همـــه عمـــر انـــدرین محنـــت نشســـتی
نـــدانم تـــا خـــدا را کـــی پرســـتی؟

و از ناصر خسرو بشنویم که میگوید:

ای امـــت بـــدبخت، بـــدین زرق فروشـــان
جـــز از خـــری و جهـــل، چنـــین بنـــده چرائیـــد؟
خـــواهم کـــه بدانمکـــه مـــراین بیخـــردان را
طاعـــت ز چـــه معنـــی و ز بهـــر چـــه نمائیـــد؟

۵ـ نسـل هـای افغـانی بایـد توجـه داشـته باشـند کـه جانشـینان میـرویس خـان، فقـط از روی شـور جـوانی و حمیـت مـذهبی و احساسات پشـتون والـی، بـدون محاسـبهء دقیـق تواناییهـا و ظرفیـت هـای افغـانی بـرای اداره یـک کشـور بـزرگ تـاریخی، خواسـتند دامنـه حامیـت افغـانی را بـه درون قلمـرو صـفوی ایـران گسـترش دهنـد، در حالیکـه فـتح پایتخـت و یکـی دولایـت ایـران چیـزی و اداره کشوری بـزرگ چـون ایـران، چیـز دیگـری بـود و در شـرایط فقدان رجـال مجـرب و کـاردان و کـار آزمـوده، اداره‌ء یـک چنـین

مملکتی از توان یک عده جنگجویان سلحشور و فداکار، کار بسیار دتشوار و ناممکنی بود. خیلی بجا و معقول این بود تا محمود هوتکی بجای لشکرکشی در قلب ایران، حاکمیت ملی را در داخل کشور و پیوسته به مرزهای قندهار توسعه و استحکام می بخشید، مگر غرور جوانی و احساسات افغانی او را به هوای فتح کشور بزرگ ایران انداخت که با فداکاری و همراهی قشون سلحشورش در آغاز به پیروزی انجامید، مگر بزودی شیرازهٔ کاراز هم پاشید و سرانجام همه افغانهای که به طمع فتح و اشغال ایران کمر بسته بودند، از روزیکه از قندهار بیرون شدند تا پایان عمر خود یک روز آرام و بی دغدغه ندیدند و سرانجام تمامی شان (در حدود ۲۰ هزار نیروی مهاجم و سی هزار اعضای خانواده های شان که به امر شاه محمود از قندهار به اصفهان کوچ کرده بودند) توسط مردم ایران و بخصوص بدستور نادر افشار قتل عام گردیدند و در ۱۷۳۸ میلادی نادر افشار طومار دولت هوتکی قندهار را نیز درهم پیچید و سران خاندان هوتکی را از قندهار به مازندران و بخارا و بلخ وغیره نقاط دور دست تبعید و نابود کرد و از زمان میرویس خان تا تاسیس دولت مستقل افغانستان (در ۱۷۴۷) سی طول کشید تا شخصیتی چون احمد شاه ابدالی ظهور نمود و او توانست با مشورت و همکاری رجال مجرب افغانی قلمرو حاکمیت افغانی را در چوکات متین تر و با دوامتری پی ریزی نماید که تا امروز دوام آورده است.

پایان

## رویکردها:

۱. تاریخ سیاح مسیحی، تحشیه و تصحیح فقیر محمد خیر خواه، چاپ کابل ۱۳۶۳، ص ۲۸.
۲. دکتر شفا، پس از هزار و چهارصد سال، چاپ ۲۰۰۳، ج۲، ص ۷۵۵
۳. دکتر شفا، همان، ص ۷۵۸
۴. جی، پی، تیت، سیستان، ج ۱، ص ۱۵۲
۵. لکهارت انقراض سلسلهء صفویه، ترجمه عماد، ص ۱۴۶
۶. لکهارت، انقراض سلسلهء صفویه، ص ۱۵۱
۷. لکهارت، همان اثر، ص ۱۵۱. محمد خلیل مرعشی، مجمع التواریخ، ص ۴۴ (بحواله لکهارت، حواشی ص ۱۵۷، ۱۳۱)
۸. ایران، کلده و شوش، تالیف، مادام ژان دیولافوا، شوالیه لژیون دونور، افسر اکادمی، پاریس ۱۸۸۷، ترجمه علی محمد فره وشی، به کوشش دکتر بهرام فره وشی، چاپ ۱۳۷۱ دانشگاه تهران، ص ۲۵۷.
۹. لکهارت، همان اثر، ص ۱۶۳_۱۶۴.
۱۰. سقوط اصفهان به روایت کروسنیسکی، چاپ تهران ۱۳۸۲، ص ۵۱
۱۱. دکتر شفا، پس از ۱۴۰۰ سال، ج ۲، ص ۷۶۰
۱۲. تاریخ سیاح مسیحی، ص ۴۲، لکهارت، ص ۱۹۳
۱۳. لکهارت، همان اثر، ص ۱۹۵،۱۸۷
۱۴. لکهارت، صفحات ۱۹۸_۱۹۹
۱۵. لکهارت، صفحات ۲۰۰_۲۰۱، تاریخ سیاح مسیحی، صفحات ۴۹_۵۰
۱۶. تاریخ سیاح مسیحی، ص ۵۱، لکهارت، ص ۲۳۲
۱۷. تاریخ سیاح مسیحی، چاپ کابل، ص ۱۲_۱۳ . سقوط اصفهان بروایت کروسینسکی، تهران، ص ۴۶
۱۸. لکهارت، همان اثر، ۲۲۱. تاریخ سیاح مسیحی، ص ۶۳
۱۹. سقوط اصفهان به روایت کروسنیسکی، ۶۳
۲۰. سقوط اصفهان، بروایت کروسینسکی، ص ۷۲

۲۱. لکهارت، همانجا، صفحات ۲۳۹_۲۴۰. تاریخ سیاح مسیحی، صفحات ۶۰_۶۱
۲۲. لکهارت، ص ۳۱۷، تاریخ سیاح مسیحی، ص ۶۴، سقوط اصفهان بروایت کروسینسکی، ص ۷۵
۲۳. همان منابع، همانجا
۲۴. شفا، همان ص، ۷۴۲، ۷۴۳، ۷۴۹
۲۵. شفا، همان، ص ۷۵۱
۲۶. سقوط اصفهان بروایت کروسینکسی، ص ۳۲
۲۷. دکتر شفا، پس از هزار و چهار صد سال، ص ۷۲۶
۲۸. دکتر شفا، توضیح المسایل، صص ۲۵۹_۲۶۰

عبدالغفور لېوال

# هوتکي پاڅون
## او د افغاني ملت پالنې څرکونه

**یادونه: دا لیکنه د افغان هوتکي پاڅون د درېیمې کلیزې په وياړ سیمينار کې لوستل شوې وه.**

څه باندې دوه زریزې پخوا کله چې د نامتو لسو آریایي توکمونو یوه لویه ډله د نني افغانستان ختیځ او سهېل ته خوره شوه او له یکتاني دودیز کوچاني ژوند څخه څه ناڅه دمه شول، نو د حکومتونو سیمه ییز بنسټونه یې دلته او هلته رابنکاره شول، کله کله یې تر ډیلي او ټول هندوستان پورې د شاهنشاهیو او سلطنتونو ځواکونه پراخ شول او کله یې خپل هېواد هم د گاونډیو ځواکونو ترمنځ ووېشل شو، خو په دې ټول مهال کې د ملت پالنې یا منظم Nationalism شعور څکه د تاریخ تر خاورو لاندې پټ دی، چې نه خو پر فرهنگي بنسټ ولاړ حکومتونه رامنځ ته شوه او نه یې هم په خپله خاوره کې پښه ټینګه شوې ده، پښتنو کورنیو به چې واک و ځواک

ومونډ، نو د ډيلي د سرو زرو مرغۍ به څه کوډې پرې وکړې، چې ور به غلل نو د هند د بې پايه سمندر په تودو اوبو کې به ډوب شول او خپل کلي کورونه به يې همداسې کنډر پاتې وو.

د پرمختللې ټولنې په بحثونو کې ملت پالنه پر څلورو پښو ولاړ ټولنيز اصول دي، چې په دې لاندې توګه يې نوموړاى شو:

۱ـ کلتوري بنسټ:

هغه مهال چې يوه ټولنه پر شريک کلتور (په تېره بيا پره ژبه) تکيه وکړي د ملت پالنې مټ ځواکمنتيا مومي.

۲ـ ګډ اقتصاد:

هر کله چې دا ټولنه ګډې اقتصادي زېرمې او مادي اړيکې ټينګې کړي، د ملت پالنې بل اړخ بشپړېږي.

۳ـ ګډ هېواد:

د ملت پالنې لپاره بل اصل په يوه شريک جغرافيايي چاپېريال کې اوسېدل او ژوند کول ګڼل کېږي.

۴ـ سياسي مشارکت:

هغه مهال چې د ملت ټول غړي احساس کړي، چې په واک کې شريکان دي او ښايي خپل سياسي يون پياوړى کړي، څکه دا يون د ده او دى دهغه دى.

د پښتنو تاريخ که په ژوره توګه ولوستل شي، تر هوتکي پاڅون پورې، داسې بخت لږ په ګوتو ورغلى چې دا څلور فکتورونه سره لاس په لاس شي او د ريښتوني پښتني سياست پر بنسټ دې کوم حاکميت جوړ شي. د مدني مرکزونو نشتوالى،

نـا متمرکـز اقتصـاد، قبیلـوي تیـت پرکـوالی، ناصـنعتي والـی او یـوازې پـر کرنیـز اقتصـاد تکیـه، د ځـواک لـه مرکـز څخـه د ژبـې لرې ساتل او داسې نورو لاملونو تـل د ملـت پـالنې نیـالگی سـم نـیم کړی دی.

پـه ۱۷۰۹ زیـږدي کـال کـې چـې هـوتکي ملـي حکومـت جـوړ شـو، لـوی کنـدهار د پښتنـو تـر ټولـو سـتره اقتصـادي کلتـوري او تجارتي منځی وه، آن تـر دې چـې پـه خپلـه حـاجي میـرویس خـان هوتـک هـم پـه سـوداگری بوخـت و او لـه ښـاري ژونـد سـره یـې آشـنایي درلـوده. د هغـه مهـال کنـدهار لـه اقتصـادي او کلتـوري اړخـه د ملـت پـالنې د شـعور د راټوکېـدو لپـاره چمتـو و، د پښتنـو دوو لویـو ټبرونـو یعنـې غلجیـو او ابـدالیو هـم د سیاسـي مشارکت (گډون) لـه لارې د یـو ملـي حکومـت جـوړول څکـه غـوره گڼـل، چـې نـور نـو ژونـد د پـردي یرغلگـر واکمـن (گـرگین خـان) پـه خونخوارو منگولو کې ناشونی و.

کلتـوري فکتـور هـم مرسـته کولـه، چـې پښتانـه دلومړي ځـل لپاره د ملت کېـدو تجربـه وازمیـي، دوی لیـدل چـې ټـول پـه یـوه ژبـه گړیږي، تقریباً یـو ډول جـامې اغونـدي، مـذهب او دیـن یـې سـره گـډ دی، یـو د بـل پـه لنـډیو، غاړو او سـروکو پوهیږي، لـه هراته تر غزنـي او لـه غـوره تـر ملتانـه د یـوه کالـه خلـک دي، خـو عجیبه ده چـې پـه خپـل کـور کـې د بـل واکمنـی تـه ناسـت دي، همدا پـوښتنې، همـدا حیرانتیـاوې او همـدا دردونـه د ملـت پـالنې لومـړني زړي و، چـې راوټوکېـدل او د هـوتکي پـاڅون خوځښـت یـې د افغـاني حکومـت او پیـاوړي افغانسـتان د رامـنځ تـه کېـدو پـه

زېري بدل کړ.

غواړم دلته څو هغه توپیرونه وشمېرم، چې د هغو پر بنسټ هوتکي پاڅون د پښتنو له تېرو ملي او سیاسي مبارزو څخه بېلوي او د ملت پالنې روحیه یې ځلوي:

۱_ هوتکي پاڅون یوازې مذهبي نه و، لکه د پیر روښان پاڅون چې د سیاسي او ملي اړخ ترڅنګ یې مذهبي ځانګړتیا ډېره ځواکمنه او د پام وړ وه، پیر روښان یوازینی لاره چې د هغه مهال پښتانه یې پرې راوېښولای شول، د پیر مریدي او دیني ارشاد ګڼه، خو میرویس نیکه ابدالیان او خلجي سره یو ځای کړل او له مکې او مدینې څخه راوړې فتوا یې یوازې د دیني علماوو د باوري کولو لپاره هغو ته وروښوده، ځکه هغه مهال واکمن ایرانیان د مسلمانانو په توګه ددې وړ نه ګڼل کېدل، چې پر ضد یې بغاوت وشي او دا یوازې ملي احساسات وو، چې د جهاد امر یې کاوه.

۲_هوتکي پاڅون د تېرو یو شمېر پښتني پاڅونونو پر خلاف د یوه لنډ اعتراض او کمزوري حرکت په توګه نه، بلکې پر یو بشپړ سیاسي تدبیر او هدفمند ملي فکر ولاړ خوځښت و، ځکه میرویس نیکه یوازې د ګرګین له ظلم څخه د خلاصون په فکر کې نه و، له هغه سره ستره موخه دا وه چې څنګه د یوې ټینګې افغاني ملي واکمنۍ بنسټ کېږدي، چې پر بنسټ یې د ځمکې پر سر دغه مېړنی قوم هم په خپل وطن کې حکومت او واکمني ولري.

۴_هوتکي پاڅون د یوې ځانځاني غوښتونکې زوروا کۍ د

رامنځ ته کېدو لپاره نه و پیل شوی، بلکې د سیاسي مشارکت د تمثیل لپاره د خلجیو، ابدالیو او حتی ترکو او تاجکو یووالي ته په یکې پام ساتل شوی وی، ددې لپاره چې نور قومونه او قومي مشران د کمترۍ احساس ونه کړي، ستر میرویس نیکه د پاچاهۍ لقب ونه مانه، ځان یې قومي مشر اعلان کړ او په دې توگه یې د نورو سیالو خانانو ملاتړ له ځان سره وساته.

له پورته شمېرل شویو فکتورنو څخه دا زباتېږي، چې د هوتکي پاخون زړی او مانیزه هسته د ملي حکومت رامنځ ته کول او د یوه خپلواک کلتوري ملت په توگه د افغانانو د ملي حیثیت اعاده وه.

زما لپاره تاریخ تل د یوې داسې بشري تجربې په توگه ارزښت لري، چې له هغې څخه په زده کړه، خپله راتلونکې سمه کړای شو. د افغانانو په تاریخ کې همدا هوتکي پاخون د راتلونکي ویښتیا او سمونې لپاره یوه ځلنده بېلگه ده.

دې اصل ته په پام راځئ وگورو، چې ملت پالنې او د ملي حکومت په رامنځ ته کولو کې د هوتکي پاخون او حکومت د بریالیتوبونو راز په څه کې و؟

بیا هم مخکې یادو شویو فکتورونو ته په اشاره د هغه وخت امکانات او تجربې او اوسنۍ اړتیاوې سره پرتله کوم _ البته دا نه هېروم چې اوس د خدای (ج) په فضل موږ د یو ټاکلي خپلواک هېواد او ملي هویت خاوندان یو، خو هغه مهال د میرویس نیکه هېواد او همزولی نسل پر دربیو ټوټو وېشل شوی و _ دا په دې مانا چې کار تراوسه ډېر ستونزمن و:

## ۱_ کلتوري اصل او د ژبې ارزښت:

تر هغو چې ملت پر يـوه واحـد کلتـور، گـډې ملـي ژبـې او ملـي مـانيزو ارزښتونـو راونـه څـرخې، يـون او بريـاليتوب ناشـونی دی. ميـرويس نيکـه دې تـه متوجـه و چـې ايـران، مغـولي هندوسـتان او بخـارا يـې حکومـت درې سـزه مسـلمانان دي، خـو دده هېـواد او ستر قوم چـې دغـو درو سـره ځواکونـو پـه خپـل مـنځ کـې وېشـلی، ځکه د هغو له خـوا شـکنجه کېږي، چـې د يـوه بېـل کلتـور او ژبـې خاوندان دي، پښتون بابا پـر همـدې اصـل تکيـه وکـړه او هـر پښتـون بلکې هر افغـان يـې چـې د افغـاني کلتـور پـه قلمـرو کـې شـاملېده، سـره رانـول کـړ او د پـردي يرغلگـر پـه وړانـدې يـې پـاځون تـه وهڅـاوه. د ميـرويس نيکـه پـه گـډون د هغـه زامنـو شـاه محمـود او شاه حسـين او وراره شـاه اشـرف ټولـو د پښتـو ژبـې او ادب ودې تـه د همدې اصل له مخې پام سـاته، د زلمـي شـاه حسـين هوتـک دربـار د پښتـو ژبـې او ادب د ودې لومړنـی رسـمي زانگـو گڼلای شـو، نـامتو تذکره نگار او د پټې خـزانې مولـف محمـد هوتـک د همـدې زريـنې دورې محصول دی، له بلـې خـوا د ژبـې ارزښـت تـه د هغـه مهـال د چارواکو پام دومره جدي و، چـې پـه خپلـه واکمنـو هـم پـه دې ژبـه ليکل او شـاعري کولـه، نـامتو سـيدال خـان ناصـر، بـابو جـان بـابی، مـلا زعفـران او نـور ددې ادعـا ثبـوت دي، نـو کـه غـواړو ملـت لـه کلتـوري پلـوه ورغـوو، ښـايي د سياسـي_رسـمي او علمـي ملاتـړ لـه لارې خپلـه ژبـه او کلتـور وپـالو او د يـو ملـت پالـه قـوم پـه توگـه د پرمختگ لاره ونيسو.

## ۲_ګډ اقتصاد:

نه پوهېږم ولې بهرني ختیځ پوهان او افغانستان پوهان دا ګڼي چې پښتانه د اقتصادي ودې، سوداګرۍ او صنعت مینه وال نه دي؟ او دا ورته یو ډول عار ښکاري. لویه تروره یې همدا وي، چې څو جریبه ځمکه نسل په نسل وېشي او په پای کې د ګندنې پټي ورته پاتې شي یا څو یو اوښ او څو پسونه. همداسې کوچیان ګرځي. ښاري ژوند، ښوونه روزنه، صنعت او مدني ارزښتونه ورته له پښتونولۍ څخه وتل ښکاري. حال دا چې که غواړو د یوه پرمختللي قوم په توګه د نړۍ په یادو ملتونو کې ودرېږو، باید چې د خپل ویاړلي کلتور له ساتلو سره سره د یوه ګډ اقتصاد او مالي بنسټ په ودانولو کې هوښیار، ویښ او هڅاند قوم شو.

میرویس نیکه د یوه کامیاب اوښتون او باوري حکومتي سیستم لپاره دې اصل ته متوجه و، ځان یې له اقتصادي پلوه پیاوړی کړ، د کندهار ښار د کلانترۍ له لارې د ښاري ژوند له رموزو سره آشنا شو، په اصفهان کې د صفوي دربار له ځانګړتیاوو سره آشنا شو، د حج په سفر کې یې د هغه مهال له سیاسي مشرانو او پوهانو سره مشورې وکړې، له بېرته راستنېدو سره سم یې له هغو قومي مشرانو سره مشورې وکړې، چې د اقتصادي ځواک خاوندان وو. هغه مهال چې واک ته ورسېده، د کندهار ښار اقتصادي بنسټونو پیاوړي کېدو ته یې پام واړاوه.

افغانان که د کرنې ترڅنګ نورو اقتصادي لارو چارو ته پام وکړي، د ملت پالنې سپېڅلې داعیه به یې بې بنسټه نه وي.

## ۳_ ګډ هېواد:

موږ افغانان يو او هېواد مو افغانستان دی، همدا زموږ د ملت لپاره د قوم پالنې د مفکورې د ملا تير جوړوي. مانا دا چې که افغانستان نه وي، موږ نه يو او که افغانستان پياوړی وي، موږ به هم ځواکمن خلك يو. راځئ له ميرويس نيکه يې زده کړو، چې خپلواك اوسو، خپل هېواد او خپل حاکميت ولرو، په دې هېواد کې که خلجي يو، که ابدالي، شينواري که احمدزي، ترکمن يا ازبك و هزاره و بلوڅ، ښايي د ودان افغانستان په مټ خپل شتون زبات کړو.

## ۴_سياسي مشارکت:

دا يو مهم اصل دی، خو که يې وپېژنو، له پاسه نه، بلکې بايد له لاندې يې ورغوو، سياسي مشارکت دې ته نه وايي، چې د حکومت له خوا په سمبوليکه توګه هر قوم ته يوه څوکۍ ورکړل شي، بلکې دې ته وايي چې د افغانستان او افغان د عامه ګټو لپاره يو موټی شو او د قبيلويت پرځای قوميت جوړ کړو. له ميرويس نيکه سره هر هغه څوك ملګری و، چې د هېواد خپلواکي او د افغان حاکميت يې غوښته، موږ وينو چې څنګه هغه مهال حاجي محمد خان انکو، يونس خان کاکړ، نور خان بړېڅ، ګلخان بابړ، پير محمد خان (مياجي)، عزيز خان نورزي، سيدال خان ناصر، بابو جان بابي، بهادر خان او نورو ټولو بې له دې چې قبيلوي ملحوظات په پام کې ولري، د يوه ملي

حاکمیت د رامنځ ته کولو لپاره میرویس نیکه ته لاسونه ورکړل او تر پایه خپلې ژمنې ته وفادار پاتې شول. وایي د مانجې د جرګې غړیو ملي هدف ته د رسېدو لپاره دومره ژمن وو، چې د عملي پاڅون تر شېبې پورې د ګرګین او ګرګینیانو اروا هم نه وه خبره. د ملت پالنې په احساس د سمبال سیاسي مشارکت یوه غوره بېلګه همدا ده.

* * *

## پایله:

غواړم د مقالې هدف ته راشم او هغه دا چې هوتکي پاڅون په حقیقت کې د افغاني ملت پالنې د مفکورې لپاره هغه وینه ورکړه، چې له نبکه مرغه ترننه ژوندۍ ده، که د تاریخ په اوږدو کې کله تته شوې او کله ځلېدلې وي، دا به د زمان د لوړو ځوړ کار وي، خو مهمه دا وه چې وکرل شوه او راشنه شوه.

د هوتکي پاڅون ټولو مشرانو او په سر کې ستر ملي اتل میرویس نیکه د ملي روح د راژوندي کېدو او افغانانو ته د ابدي ځواک ښنلو لپاره ټول هغه سیاسي عناصر له خاورو راواېستل، چې د هغو له برکته نن زه په پښتو مقاله لیکم او تاسې یې اورئ او ښایي یو څوک له همدې تالار څخه بهر په دې ویاړي، چې افغاني هویت لري.

او وروستۍ دا چې د هوتکیانو دوره دا ځل داسې لوستلو ته اړتیا لري، چې د هغو پر بنسټ ځوان افغان کول مخ پر

وړانـدې ګـام واخلـي واخيسـتلای شـي، پـر خپـل افغـان والـي وويـاړي، يـو بـل او يـو بـل ميـرويس شـي. د تـاريخ ددغـې بريالـۍ تجـربې رڼـا تـه خپلـه راتلـونکې جـوړه کـړي او همـدا سـبا د يـوه ويښ ملت، ودان افغانستان او ملت پال قوم لرونکي شو.

**پوهنمله رحیمه**

د کابل ښوونې او روزنې پوهنځي

د تاریخ پخوانۍ استاده

# په هوتکي پلازمېنه اصفهان کې د هوتکي دورې دوه ډېرلیکونه او څه نورې تاریخي نښې

**په جرمني کې د هوتکیانو د ملي پاخون د درې سوم جشن په درشل کې**

ښايي د ډېرو خلکو لپاره دا د حیرانتیا وړ وي، چې د هوتکیانو د دورې آثار دې په یوه داسې هېواد لکه اوسني ایران کې تراوسه پورې پاتې وي، خو له دې سره سره دا یوه خبره د یادونې وړ ده او هغه دا چې د ایران په آرشیفونو او یو شمېر کتابتونو کې اوس هم یو شمېر داسې آثار شته، چې د هغو له مخې پر فارس باندې د افغانانو د واکمنۍ د سیاسي، فرهنګي

او ادبي اړخونو خورا ښه څرګندوی دي، ایراني څېړونکیو تر ډېره حده هڅه کړې، چې زموږ دغه رښتیاني اسناد او مدارک باید همداسې له سترګو الونیا وساتي او یا یې هم له منځه یوسي، لکه چې په دغه هېواد کې دا شان چال چلند له پخوا دود و. پ ایران کې ډېر زیات اسناد لا هم ناسپړلي پاتې دي او لا هم پوهان په دې نه دي ډاډه، چې هوتکیانو به په فارس او یا اوسني ایران کې د هغو تودو جګړو په ترڅ کې پر فرهنګي او مدني چارو هم لاس پورې کړی وي. په داسې حال کې چې هوتکیان د اسیایي واکمنانو له هغو واکمنانو څخه وو، چې په خپل هېواد او سیمه کې یې د خپل دولت د پیاوړتیا لپاره یوازې پر پوځي چارو باندې بسنه نه وه کړې او نه یې یوازې پوځي تګلاره د خپلې واکمنۍ د پیاوړتیا لامل بلله. سره له دې چې دوی په خورا سختو تاریخي حالاتو کې داسې، چې په هره خوا کې یې مقتدر دولتونه پر واک او ځواک و، نو راپورته شول خو دوی نه یوازې یو سیاسي ځواک وو، بلکې له سیاستوالي سره سره یې له فرهنګي پلوه هم په خپل وخت او خپل واک کې له ځانه موږ ته د پاملرنې وړ اوچت تاریخي، فرهنګي او ادبي میراثونه راپرېښي دي. دغې واکمنې کورنۍ او د هغې نومیالیو واکمنانو په خپل وخت کې وکولای شول، چې له چنګیزي پاتې شونو راپه دې خوا د افغانستان د خلکو د اوږدو مبارزو ملي لړۍ په یوه بري او یوه خپلواک دولت په خپل تاریخي هېواد افغانستان کې پای ته ورسوي.

دوی په افغانستان کې د فارس او هند واکمنۍ پای ته

ورسولې، په دې مانا چې تاريخي کندهار يا هغه سيمه چې فارس او هند دواړو د هغه د لرلو لپاره وسله والې سيالۍ کولې، د يوه خپلواک هېواد پر پلازمېنه باندې واړاوه او هغه ادلون بدلون ته يې د پای ټکی کېښود، چې کله به ددې ستر افغاني مرکز (کندهار) واک د مغلو او کله هم د صفوي واکمنۍ په لاس کې و. دغو دواړو ځواکونو د کندهارد لرلو لپاره تر اوږدې مودې د پښتنو وسله والې مبارزې په ختيځ او لويديځ کې په خورا بې رحمۍ سره وځپلې، خو له دغو ځپلو سره سره يې هغه يوه هم تر هوتکي دورې پورې چې ددغو مبارزو لوړتيا وه، غلې نه کړای شوې، دوی چې څومره خوارۍ وکړې او څومره يې چې دپښتنو دغه هلې ځلې ځپلې هماغومره يې دغه مبارزه او د هغې د افغانستان مرکز کندهار[1] د مقاومت ضد سنگر همداسې اوچت او سرلوړی پاتې شو.

[1] په کندهار کې د مغلو له واليانو څخه يو هم خورا شتمن او بډای والي علي مردان خان و. دده په اړه دا ويل شوي، چې ده په کندهار کې خپله واکمني يوازې د خپلې شتمنۍ په زور ساتله، آن چې په خپل مهال کې يې فارسي واکمنانو او سيمه ييزو مشرانو ته ډالۍ او سوغاتونه ددې سبب شول، چې تر يوه وخته يې دغه صوبه په خپل واك کې وساتله. فارسي واکمنانو غوښتل، چې دی يې له خپلو شتمنيو سره فارس ته ستون کړي، خو ده نه غوښتل چې هغوی ته دې په لاس ورشي. کندهار يې ورته پرېښود او له خپلې شتمنۍ سره کابل ته راغی او دلته تر اوږدې مودې د کابل صوبدار پاتې شو. د شاه جهان او اورنگ زېب په دوران کې د کندهار د نيولو لپاره خورا زيات کوششونه وشول، کندهاريانو مقاومت کاوه او مغلي پوځونو ونه کړای شول ، چې دغه ښار ونيسي. له علي مردان څخه يې مشوره وغوښته، چې څنگه کولای شي کندهار وساتي. ده په خورا صداقت سره دا خبره ورته کړې وه، چې تاسې به تر هغه وخت دغه اوسپنيزه کلا ونه نيسئ، ترڅو مو ددغو خلکو ترمنځ زاغونډې يو بې ايمانه، ډارن او پلورل شوی کس نه وي موندلی.

د هغه مهال کندهار او کابل داسې صوبې وې، چې د يوې سر يې پر فارس او د بلې پر هند لګېده. په دې مانا چې له سياسي او اداري پلوه دغه دواړې صوبې د هند او فارس د پياوړو ادارو برخليک ټاکونکې وې. د کندهار صوبه په هغه مهال تر غزني او شاوخوا پورې پرته وه، د کابل د صوبې پوله بيا ان تر پنجاب پورې رسېده، چې د هرڅه برخليک يې په پښتنو پورې اړوند و.

د يوه ملت د برخليک ټاکنې په ترڅ کې يوازې د هغه ملت لپاره سياسي او وسله واله مبارزه جوړوونکې نه ده، د پښتنو ددغې مبارزې لپاره چې هوتکي ميرويس په کندهار کې د برې سرمنزل ته ورسوله. د پښتنو د وسله والې مبارزې ترڅنګ يوه پرله پسې او پام وړ فرهنګي مبارزه هم پيل کړې وه، چې تر دغه عصره يې په نيم خپلواک حالت کې څو نسلونه په پوره وياړ سره وروزل. د روښان پير معنوي هڅې، د خوشال خان خټک وسله والې او فرهنګي هڅې هغه څه دي، چې د هوتکي دورې په فرهنګ پاله تګلاره او پاليسي يې خپله مثبته اغېزه درلوده او ددغې افغاني ادارې په سياسي او ملي رغېدنه کې دغې پښتني فرهګپالې دورې خپل ځای په پوره وړتيا سره وموند.

پر فارس باندې هوتکي برې او برلاسي يوه تاريخي موضوع ده، ايراني څېړونکي هم دغه دوره په بېلابېلو بڼو سره څېړي او قضاوت پرې کوي. دا چې تاريخ په ډېرو وختو کې په خپله يوه سياسي او ټولنيزه مصلحتي مساله ده، ځکه نو په هغه کې د

سياسي مصلحتونو تومنه د هغه تر نورو اړخونو په فارس او اوسني ايران کې هم خورا پياوړې وه.

همدا ده، چې دوی په خورا سختۍ سره کولای شي نور وزغمي، ځکه نو د هوتکيانو په اړه هم دوی دغه دوه گونې تگلاره په خپلو څېړنو کې ترلاس لاندې نيولې. په دې مانا چې يو شمېر دغه دوره د فارس په تاريخ د يوه يرغل په توگه څېړي او يو شمېر نور چې تر دغې ډلې ځيرک دي، هغوی هوتکيان د خپل تاريخ په ترڅ کې د خپل تاريخ يوه برخه بولي او ټوله پړه په دغه ترڅ کې پر لوی احمد شاه باندې وراچوي، چې گواکې دی و، چې فارس او افغانستان يې سره بېل کړل او که نه دا خو يو قام او يو هېواد و. په دغه ترڅ کې د ايرج افشار نظر دی، چې ليکي:

"د علجيانو د سلطنت دوره د شاه حسين په تس نس کېدو او د مير محمود په تاج ايښودلو سره پيل کېږي. بې له شکه دا په خپله د ايراني پاچاهانو کورنۍ ده، افغان په هغه مهال د يوه ملت او د افغانستان په نامه کوم دولت په نامه سره نه وو، چې پر يوه دولت چې هغه د ايران وي بريالی شوی وي. کندهار په هغه مهال د ايران يو ښار و او مير محمود په خپله د غلزايي قبيلې يو ايراني غړی و، چې په رښتيايني سره يو پاچا د بل پاچا پر ځای واک ترلاسه کړ او يوې سلسلې د يوه بل قام ځای ونيو ان چې پلازمېنه هم له يوه هېواده بل ته نه وه لېږدول شوې. هغه تاريخ ليکونکي چې نه غواړي محمود او اشرف په ايراني پاچاهانو کې وشمېري، تېروتنه کوي..."

*(افغان نامه، ۱ ټوک، ۵۶۶مخ، د تهران چاپ)*

دا شان اعترافات ایرانیان په خاصو وختو کې کوي او هغه هم په داسې وختو کې، چې نه شي کولای له تاریخي حقایقو څخه انکار وکړي. که څه هم دا هغه تاریخي واقعیتونه دي، چې په ډېرو مسایلو کې له هغو څخه انکار نه شي کېدای، خو دوی په زیاترو وختو کې له دغو واقعیتونو ځانونه بنوی تېروي او که نه د تاریخ په اوږدو کې په تېره له اسلامي دورې راهیسې خو تل فارس د افغانستان یا خراسان یوه برخه وه، یا په بله وینا فارس د افغانستان د یوه ولایت حیثیت درلود، چې دغې لړۍ ان تر احمد شاهي دورې پورې روانه وه. ښاغلی افشار د اوسني ایراني بریادي، هغه هم په هغه مهال کې چې آریامهر د خپل واک په لوړتیا کې پر فارس، چې وروسته یې د خپلې لوړتیا غوښتنې له امله ایران ونوماوه واکمن و او له دویمې نړیوالې جګړې راهیسې یې د پېلابېلو نړیوالو کړیو په مرسته په دغه تاریخي تېري لاس پورې کړ. په داسې یوه تاوده حالت کې د افشار لپاره دا شان خبرې او دا شان اعتراف په خپله د زهرو یو تریخ غړپ دی، چې باید تېر یې کړي او که نه موږ په دغه ترخ د ډېرو ترخو او ورانو تجربو شاهدان یو، چې ایران هېڅکله هم ددې پلوی نه و او نه دی، چې په سیمه کې د دوی له لوړتیا غوښتنې پرته نور ولسونه لکه افغانان او تاجکان ځانونه د آریانیې ویاړونو او میراثونو خاوندان وي. د هوتکیانو په دوره کې لکه چې دمخه یې یادونه وشوه، فارس په رښتیا هم د افغانستان یوه داسې برخه وه، چې ان دغو واکمنانو هغه له فرهنګي پلوه له یاده ونه ایسته، یوازې یوه خبره چې په دغه دوره کې له پامه نه

شي لوېدای، دا ده چې هوتکيان په فارس کې تر هرځه له مخه د روسانو او ترکانو په وړاندې په دفاعي محاذ کې بوخت پاتې شول، ځکه نو بيالي نشول، چې په فرهنګي برخه کې دې د پام وړ ګام اوچت کړي. په تېره بيا د اعلحضرت شاه اشرف په دوره کې، چې د ايران د شته والي او نشتوالي سوال رامنځ ته شوی و، د هوتکي واکمن او ددغه مهال نوميالي مشر سيدال خان ناصري (سيدال خان ناصر د هوتکي دورې لوی پوځي لاربښود، شاعر او ملي مشر و، چې د هوتکي دولت له ماتې سره بېرته کندهار او له هغه ځايه تر کابل پورې رارسېدلی دی. مزار يې د کابل په شکردره کې دی او په دغه سيمه کې په "قبر سيدال" مشهور دی. دفاعي کاروايي وې، چې پر دغه افغاني قلمرو باندې يې له ترکانو او روسانو سره پرله پسې جګړې وکړې.

دوی له دې سره سره هم ځانونه آرم ونه نيول او په زياترو برخو کې يې داسې ګامونه پورته کړل، چې يو شمېر تاريخي او فرهنګي آثار، کتيبې او مانۍ يې تراوسه پورې په خپله تاريخي پلازمېنه اصفهان کې تر پاتې دي. د هوتکي واکمنۍ پلازمېنه د اصفهان ښار و، اصفهان هغه تاريخي پلازمېنه ده، چې په هوتکي دوره کې يې هم خپل ځانګړی اهميت درلود. ددغه ښار د هوتکي دورې انځورونه د مسيحي سيلانيانو په تېره پولنډي کرسنسکي په ليکنو او يادښتونو کې تر يوه حده زموږ پاملرنه وراړولای شي. په دې مانا چې کله دوی دغه ښار له خپل فارسي سيال صفوي واکمن څخه ونيو، په همغه شان يې دلته تاريخي او فرهنګي ځايونه او يادګار په خپل پرتم سره وساتل.

دغه اصل په خپله د هوتکي واکمنۍ په دوره کې یو خورا مهم او پام وړ لامل هم لري او هغه دا چې کوم هوتکي لوړ پوړي چارواکي او واکمن، چې تر ایران پورې رسېدلي وو، په هغو کې بې له شکه یو زیات شمېر یې د خپل وخت نومیالي پوهان او شاعران وو. لکه علامه ملا زعفران، شاهنشاه اعلیحضرت شاه اشرف، لوی او بریمن جنرال د محمد هوتک په وینا زبدهٔ روزگار سیدال خان ناصر او په سلګونو نور، چې دوی د علومو په بېلابېلو برخو کې د خپل وخت نومیالي وو تر هوتکي بېرغ لاندې فارس ته ورسېدل.

دوی لکه چې ایرانیان فکر کوي، په تمامه مانا پوځیان نه وو، له دوی څخه د دوی په خپله پلازمېنه اصفهان کې یو شمېر آثار پاتې دي، چې زیاتره یې د اعلیحضرت شاه اشرف په زمانې پورې اړوند دي. په دغو آثارو کې دوې کتیبې او یو شمېر ماڼۍ دي، چې په هوتکي دورې پورې اړه لري او تراوسه په دغه ښار کې لا خوندي پاتې دي. د اصفهان په ښار کې یوه سیمه، چې تر شلو دېرشو کالو دمخه (له اسلامي انقلابه مخکې) په دغه ښار کې مشهوره سیمه وه، هغه (صفهٔ عمر) نومي سیمه او جومات دی. په دغه اړه لیکل شوي، چې "صفهٔ عمر چې د جومات په وروستۍ ختیزه برخه کې پرته ده، دغه جوړښت ډېر کسان د عمر بن عبدالعزیز اموي له نامه سره تړي او یو شمېر نور یې بیا هغه د آل ربی دلف عمر بن عبدالعزیز ته منسوبوي او یو شمېر نور هم په دې نظر دي، چې د راشدینو خلیفه ګانو نومونه پرې لیکل شوي. هغه د خلیفه عمر (حضرت عمر رض) له عصره سره

اړونده بولي، ځکه نو د صفه او مسجد عمر په نامه سره مشهور شوي دي. دلته ددغه ځای پر یوه کتیبه باندې کښل شوي دي:

"فی شهور سنه ثمان و ستین و سبعمائه من هجره محمد الرسول الشاهد.... ۷۸۶ هجري"

دلته یو زیات شمېر تاریخي ډبرلیکونه (کتیبې) په بېلابېلو وختو کې لیکل شوي او تراوسه پورې لا شته دي. په دغه سیمه کې د هوتکیانو د دورې هم دوې کتیبې شته دي. لومړۍ کتیبه د اعلیحضرت شاه اشرف په دورې پورې اړه لري او دده د واکمنۍ څرګندونه پکې په خورا اوچته توګه په عربي ژبې سره شوې ده. جالبه خو دا ده، چې دغه ډبرلیک د هوتکي دورې د نامتو پوه او عالم ملا زعفران په سپارښتنه کیندل شوې او دلته ځای پرځای شوې ده. په ایراني لیکنو کې دغه ډبرلیک د (استیلای افاغنه) د دورې د ډبرلیک په نامه یاد شوی دی. دغه ډبرلیک په ۱۱۳۹ هجري کال کې په سپین نستعلیق لیک پر کاشي خښته په قهویي رنګ لیکل شوې ده، ښي اړخ ته یې عربي او کیڼ اړخ ته یې فارسي له ورایه ښکاري، چې پوره متن یې په لاندې ډول سره دی:

| | |
|---|---|
| "لقد امر السلطان خاقان عصره " | "ز صدیق است انوار صداقت" |
| "و من فاق فی ایران عزجلاله" | "ز فاروق است اسرار عدالت" |
| "و اشرف سلطان السلاطین اسمه" | "زذی النورین فیض و نور رحمت" |
| "و منه استفاض الناس حسن نواله" | "ز انور علی حب ولایت" |
| "بتعمیر هذاالمسند الجامع الذی" | "ز صدیق است انوار صداقت" |
| "افاض علی العباد فیض جماله" | "هوالفاضل المعروف فضل کماله" |

"بترغیب مولی زعفران وانه"

"ز فاروق است اسرار عدالت" "ز انور علی حب ولایت"

"تصدی له یعقوب خان وانه" "کتبه الفقیر مهر علی المولوی"

دویم ډبرلیک هم، چې د راشدینو یارانو په اړه دی او د هغو نومونه پکې راغلي، په پوره توګه په عربي ژبه لیکل شوی دی، یوازینی توپیر یې دا دی، چې دغه ډبرلیک په ۱۱۴۹هجري کال کې کښل شوی دی، ان چې کاتب د دواړو لیکنو هم یو کس مولوی مهر علي دی. ددغه خطاط یو زیات شمېر لیکني نورې هم په اصفهان او یو شمېر نورو سیمو کې مشهورې دي. دغه ډبرلیک په لاندې متن سره راغلی دی:

"الحمدالله لله الذی تفردبالواحدانیه والبقا و تقدس عن الامثال والا کفا و اشهد"

"شهاده صادقه والانبیا و نشهد نبیا بعثهء رحمه لاهل والارض و اسمآصلی الله"

"علیه و علی آله و اصحابه خیرالدل و خیر الاصحاب الدین آمنوا و جاهدوا فی سبیل الله"

"یما علی الدهام الذی بمفاخر صدقه یضرب الامثال الموصوف فی القرآن بالتقوا"

"قوی لما ینال خلیفه رسول الله علی التحقیق امیرالمومنین ابی بکرالصدیق رضی الله"

"عنه و علی الدهام الذی یضرب بمآثر عدل الامثال و یمحی عن الاسلام اصول الکفر"

"والضلال خلیفه رسول الله علی التحقیق امیرالمؤمنین عمر

الفاروق و علی الامام المتقی"

"الوقور کالداسیات من الجبال خلیفه رسول الله علی التحقیق امیرالمومنین عثمان" "ذی النورین الزکی و علی الامام الکبیر النوال خلیفه رسول الله علماً التحقیق"

"امیر المؤمنین علی الرضی السخی الوفی و سلم تسلیماً" (کتبه علی المولوی فی ۱۱۴۹)

لکه مخکې یې یادونه وشوه، هوتکي واکمنان د خپل وخت خورا حساس او د خپل وخت له خپلو او د گاونډیو هېوادو له فرهنگ او فرهنگي بهیرونو څخه خبر واکمنان وو، دوی په خورا ځیرکۍ او د پوهې د تدبیر له مخې وکولای شول، چې د خپل ملت د بیاراپاځولو او بیا راژوندي کولو بهیر باید په هر اړخیزه توگه ترلاس لاندې ونیسي. دوی په هره برخه کې په داسې یو برخلیک ورواوښتل، چې هرڅه باید دوی له پیل څخه رانیولي وای، دوی نه شوای کولای چې په دې لنډو څو پېړیو کې یې په خراسان او افغانستان کې د خپل قام په علمي او فرهنگي او ادبي شته والي باندې په سیاسي، فرهنگي او پوځي لحاظ څه ورزیات کړي وای. په دې چې دلته هرڅه په تیه وو، پښتنو له هغه مهاله چې غوري واکمني یې پای ته رسېدلې وه، نور څه په واک کې نه درلودل. همدا ده چې دوی په خپله لنډه موده کې دومره څه وکړل، چې دا په خپل وار له تاریخي او ملي پلوه د زیات اهمیت وړ دي. دوی په سیاسي ډگر کې نه یوازې په خپل هېواد کې، بلکې په چم گاونډ هېوادونو کې هم افغانانو ملي هویت څرگند کړ. دوی خپله ژبه (پښتو) په

شعوري توګه ددې جوګه کړه، چې د دوی په افغاني دربار او درباري چارو کې د بهلول لودي سکندر لودي او شېرشاه سوري د زماني په څېر خپل ځای ولري. دوی په خپلو دورو کې پر خپل دين اسلام باندې ونازېدل او د هغه په عملي او نظري تطبيق کې يې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړې او د خپلو نوميالیو علماوو لکه علامه ملا زعفران او نورو چې له کندهاره تر اصفهانه پورې ولاړل او د پوهې وړانګې يې تر هغه ځايه پورې ورسولې. دوی ټولو د خپل وخت په عالمانو کې هغه ځای درلود، لکه شيخ عبدالنبي تلنبهي^(رح) او نورو علماوو چې په هند کې د اعليحضرت سکندر لودي او نورو پښتنو واکمنانو په دربار کې درلود. دغو عالمانو هغه مهال په فارس کې له خپلې عقيدې سره سم يو لړ ارادتي کارنامې د خپلو د يادګارو په توګه پرېښې دي.

په هر ډول پر پورتنيو دوو ډېرليکونو سربېرخ په اصفهان کې د (آثار ملي اصفهان، د ابو القاسم رفيعي مهر آبادي ليکنه، تهران ۱۳۵۲کال) په حواله يو شمېر ځايونه نور هم شته، چې د هغو تړاو د اعليحضرت شاه اشرف له نامه سره شوی دی. په دغو ځايو کې دا لاندې ځايونه او ماڼۍ د يادونې وړ دي:

د اشرف ماڼۍ د پورتني اثر په حواله:

"اين عمارت که بسيار مفصل است از جملهء آن تالار اشرف بوده است که منقش و مذهب بود و قسمتی از آن تجديد عمارت گرديده و فعلاً محل ادارهء آموزش و پرورش اصفهان است، ولی بقيه آن از بين رفت"...(ص ۸۸)

د اشرف تالار: بيا هم د نوموړي كتاب حواله:

"اين تالار در مغرب خيابان صور اسرافيل اصفهان چند قدم پايين تر از تالار تيوری و باغ كاچ و عمارت محل سكونت استانداری اصفهان واقع و محل سكونت اداره كل آموزش و پرورش استان اصفهان است. اصل ساختمان اين تالار از احداث شاه عباس دوم است و شاه سليمان در آن در سال ۱۰۸۸ هجري تاج گذاری كرده است. در وجه تسميه آن به تالار اشرف وجوهی ذكر كرده اند: بعضی گفته اند كه اين تالار را اشرف خان ساخته و برخی پنداشته اند كه چون اشرف در آن اقامت داشته بنام او معروف گرديده است." (ص ۳۸۰)

دا يوه خبره مو بايد په ياد وي ، چې هوتكيانو په فارس په تېره بيا د اصفهان په ښار كې يو شمېر عمراني يادگارونه جوړ كړي او ترې پاتې دي، چې ددغو پر زياترو باندې اوس نوي ځايونه او نوې ماڼۍ جوړې شوې دي، چې د هغو پخواني نومونه اوس يا بدل شوي او يا هم په شعوري توگه په نورو نومونو ياد شوي.

په پورتني كتاب كې يو بل نوم هم ياد شوی، چې هغه (محلهء دروازه اشرف، ص ۲۳۱) ده، خو دغه سيمه او دغه دروازه، چې بې له شكه د شاهنشاه اشرف په نامه وه او دا شان په دغه وخت كې د لويو او نامتو ښارونو دروازې د واكمنانو په نامه يادېدې اوس په دغه نامه سره نه ده پاتې.

په هر ډول! موږ ددې لپاره اړتيا لرو، چې په دغه برخه كې خپلو څېړنو ته نوره پراختيا وركړو، په دې چې په فارس يا

اوسني ایران کې د افغانانو د معماری یو شمېر نښې نښانې تراوسه پورې پاتې دي، چې د هغه په اړه باید زموږ هغه دوستان، چې اوس او یا په راتلونکي کې پر دغه لاره ورپېښېږي، ددې لپاره لاره چاره برابره کړي، چې له داسې مهمو یادګارونو مو خبر کړي. په دې چې په ایران کې زموږ د واکمنۍ د شپو ورځو یادګارونه ددغه هېواد په هر ښار او هره سیمه کې شته. د اعلیحضرت احمد شاه ابدالي د دوران عمرانې یادګارونه د مشهد په ښار کې ددغه هېواد په عمراني یادګارونو کې راځي، چې له بده مرغه ددغو یادګارونو یو زیات شمېر اوس یوازې د کتابونو په پاڼو کې خوندي دي. په هندوستان کې د افغانانو عمراني یادګارونه تراوسه پورې ددغه هېواد په تاریخ او فرهنګ کې خپل ځای لري او ددغه هېواد په عمراني میراثونو کې (پټهان سټایل) معماري، چې د ګورګاني سبک موږین او بنسټ یادېږي تراوسه پورې خپل ځای او خپل ارزښت لري، خو له بده مرغه چې د بېلا بېلو عواملو او تعصبونو پر اساس د افغاني معماری هغه بېلګې، چې په فارس او مرکزي آسیا کې په بېلابېلو وختونو کې رامنځ ته شوې او جوړې شوې، د هغو یادونه ددغو سیمو او هېوادو په عمراني تاریخ کې په لوی لاس له پامه لوېدلې او هېرې شوې دي.

## اخځونه:

۱ـ رفیعي مهرآبادي، ابو القاسم، آثار ملی اصفهان، تهران ۱۳۵۲

۲ـ حبیبي سریزه، پټه خزانه، کابل ۱۳۳۹

۳ـ پوپلزایي، احمد شاه وارث و مجدد امپراطوری افغانستان، کابل، ۱۳۵۹

۴ـ ایرج افشار، افغان نامه، په دریو ټوکو کې تهران، ۱۳۵۹

5 V.D.Mahjan. Ancient India, Delhi, 1970

6 JOS J.L GOMMANS. the rise of the Indo-Afghan Empire, (1710-1780), Delhi. 1999.

پوهنوال رسول باوري

# د میرویس نیکه د زیارت ودانۍ ته د لرغونپوهنې له اړخه لنډه کتنه

که څه هم د میرویس نیکه پر زیارت نوې جوړه شوې ودانۍ لا تراوسه سل کلنه شوې نه ده، خو د خلکو له نظره ښایي زیاته تاریخي او لرغونې وبرېښي. ددې لامل دا دی، چې افغان اولس د خپل هغه باتدبیره مشر دا حق ګڼي، چې د زیارت ودانۍ یې باید له رحلت سره یوځای جوړه شوې وي. په داسې حال کې چې دا اوسنۍ ودانۍ په ۱۳۱۱ المریز سپوږمیز کال جوړه شوې ده، چې وروسته به یې د جوړېدو په اړه یادونې وړاندې شي.

لرغونپوهان د خپلو څېړنو لپاره په بنسټیزه توګه درې ډوله اخځونه او منابع کاروي، چې د ارتیفکت (Artifact) یا جوړ

شـوي وسـايل، منـومېنټ (Monument) يـا تـاريخي ودانـۍ او اسامبليج (Assemblege) يا ګـډې ټـولګي پـه نومونـو يادېږي. پـه دې ليکنـه کـې د منـومېنټ يـا اداتـو پـه اړه مطالـب وړانـدې کېږي، چې منځپانګـه بـه يـې د ميرويس نيکـه زيـارت او د هغـې ودانـۍ د پېژنـدلو پـه بـاب بـه اړيـنې يـادونې وي. لرغونپوهـان د ودانيـو د هراړخيـزو څېړنـو پـه نيـت هغـو درېـو برخـو تـه، چې د ودانـۍ جوړښـت، ډېـزاين او ټـاټوبي (موقعيـت) دی پـام اړوي، چـې دا ميتود به ددې ليکنې لپاره هم په نظر کې ولرو.

## لومړی: د ودانۍ جوړښت يا ساختمان:

تـاريخي ودانـۍ او د هېـواد د تـاريخي شخصـيتونو زيارتونـه څـو اړخيـز ارزښـت لـري. ددې ډول ځـايونو لومـړنی ارزښـت پـه دې کې دی، چې د يـوه تـاريخي پېـر اسـتازي کـوي. دويـم دا چـې د خپـل پيـر د ودانيـو جوړولـو دود څرګنـدوي او درېـيم هغـه هنـر راپېژنـي، چـې د ودانـۍ د جوړېـدو پـر مهـال دود او يـا ځـانګړی وو. لـه همـدې لاملـه دا ډول تـاريخي ودانـۍ او زيارتونـه د هېـواد شـتمني او د ګرځنـدوی بهيـر او تـوريزم لپـاره د پـام وړ او ارزښـتمن ټـاټوبی دی. ددې تـرڅنګ داسـې هـم شـوي، چـې يـوه تـاريخي ودانـۍ او يـا د يـوه تـاريخي شخصـيت زيـارت او مـزار د اړونـد هېـواد لپـاره داسـې ملـي سـمبول ګرځېدلی، چې نړيـوال يـې لـه تفصـيل او تشـريح پرتـه پېژنـي، چـې ښـه بېلګـه يـې د مصـر اهرامونه، د چين سـتر ديـوال، د هنـد تـاج محـل او يـو شـمېر نـور دي او ددې ترڅنګ يو شمېر ودانـۍ بيـا پـه خپلـو هېوادونـو کـې د

مېشتو اولسونو د ملي باور او يووالي د يوې بېلګې بڼه غوره کوي، چې زموږ په هېواد کې يې څرګندې بېلګې د ميرويس نيکه، احمد شاه بابا، حضرت علي کرم الله وجهه زيارتونه د هرات جامع جومات، په هرات کې د جام څلى او يو شمېر نور يادولاى شو.

## په مزار شريف کې د حضرت علي کرم الله وجهه روضه:

د اسلامي خلافت په لومړيو کې د ښکلو بنګلو او سترو ودانيو جوړول بې ګټې کار ګڼل کېده او کله به يې د نه کولو سپارښتنه هم کېدله. د اسلامي خلافت په لومړيو پېړيو کې د هديرو او متبرکه ځايونو د پاسه د ودانيو جوړول هم منع وو، د څېړونکيو له نظره د هغه پېر په ودانيزو چارو پورې اړوند ټول هنرونه او لاس ته راوړنې د جوماتونو او په هغوى پورې تړلو ودانيو کې ليدلاى شو، چې په زياته کچه سره ورته او يو شان جوړېدل. د همدې لامله څېړونکي داسې اسناد او يا د ودانيو پاتې شوني په خپل واک کې نه لري، چې د هغه مهال د ودانيو د ډيزاين او سبک په اړه په پوره روښانتيا خپله رايه څرګنده کړي، خو له هغه وخته چې اسلامي امپراتورۍ پراختيا وکړه، د نړۍ له بېلابېلو اولسونو سره يې اړيکې وغځېدې، ورسره سم يې د ودانيو د جوړولو چارو ته هم پام وکړ. دا پاملرنه تر ټولو لومړى په جوماتونو او بيا د متبرکه او ارزښتمنو ټاټوبو لوري ته وګرځېده، چې څېړونکي يې تر ډېرو سرليکونو لاندې پېژني.

لومړى: د هديرو له پاسه د خلور څنډيو ساده ودانيو

جوړول، دا ډول ودانیو ته کنوبی هدیرې هم وایي، چې په اسلامي نړۍ کې د خپل ډول لومړنۍ ودانۍ شمېرل کېږي. په نوموړو ودانیو کې د هدیرې له پاسه د ودانۍ لپاره څلور کونجه (مربع) بنسټ ایښودل کېده او بیا پر هغه څلور څنډې بنسټ له پاسه ودانۍ جوړېدل. دا ډول ودانۍ دوې برخې لري، چې لاندینۍ برخه یې هدیرې ته ځانګړې شوې، چې ضریح ورته ویل کېږي او پورتنۍ برخې ته یې ګمبذ یا ګومبته وایي. د ضریح او ګومبتې ترمنځ رابطه د یوې زینې په وسیله کېږي، چې د ضریح برخه یې اکثراً د ځمکلاندې خونې (زیرزمیني) بڼه لري. د ضریح برسېره ودانۍ کې د یوې هدیرې تمثیل کېږي، چې رښتینې هدیره نه، بلکې هغه لاندینۍ هدیرې ته ورته ځای دی. دا ډول ودانۍ د اسلامي نړۍ په لومړیو کې دود وې، چې یوه ځرګنده بېلګه په بخارا کې د ساماني اسماعیل هدیره ده، چې په ۹۴۵ میلادي کال جوړه شوې او تراوسه په خپل پخواني ډول ساتل شوې ده.

## په ازبکستان کې د ساماني اسماعیل د زیات ودانۍ:

د اسلامي ودانیو دویمه بېلګه اته څنډې (اته ضلعي) ودانۍ دي، چې د مودل په څېر یې په وروستیو ودانیو خپل اثر پرېښی دی. د دا ډول ودانیو دوو بېلګو تر نورو پخوانیو زیات اثر ښندلی، چې یوه یې په یورشلم کې د السخره ودانۍ او دویمه یې په سلطانیه کې د الجایتو ودانۍ دي. په اسلامي نړۍ کې تر ټولو سپېڅلیو درېو ودانیو (مکه معظمه، مدینه منوره او بیت

المقدس) راوروسته د السخره ودانۍ سپېڅلتوب د زيات پام وړ دی، چې د قبة السخره په نامه هم يادېږي. ددې ودانۍ په اړه ويل کېږي، چې حضرت محمد(ص) له هم هاغه ځايه معراج ته لاړ او اوه اسمانونه يې طی کړل. هغه څه چې د دې ودانۍ تاريخي ارزښت زياتوي، هغه د نوموړې ودانۍ د جوړېدو ډول دی، چې د اسلامي نړۍ په راوروسته ودانيو کې يې اغېزه څرگنده ده. د السخره ودانۍ، چې يورشلم ته څېرمه پر موريه غرونو جوړه شوې، ښايي هغه جومات وي، چې د زبور د رواياتو له مخې حضرت سليمان(ع) د عبادت لپاره کې جوړ کړی و.

د اسلامي امپراتورۍ د همدې اته ضلعي ودانۍ يوه بله نامتو بېلگه، چې د مودل په څېر يې په ورستيو ودانيو خپل اثر پرېښی دی، هغه په سلطانيه کې د اولجايتو د هديرې له پاسه جوړه شوې ودانۍ ده، چې په ۱۳۰۷ ميلادي کال يې د ودانولو چارې پای ته رسېدلې دي. د اولجايتو ودانۍ هم د ات څنډو ودانيو په څېر جوړه شوې ده، چې ښکلا او ډېزاين يې زياتې ځانگړتياوې لري. ددې ودانۍ زياتې اغېزې د هندي مسلمانو واکمنو پر ودانيو شته او په ځانگړې توگه د لودي کورنۍ په دوران کې جوړې شوې ودانۍ ددې سبک تر بشپړې اغېزې لاندې دي، خو د مغولي واکمنانو پر مهال دا ډول ودانۍ د شان او دبدبې لوړو پړاوونو ته ورسېدلې.

## په هندکې د تاج محل نامتو ماڼۍ:

د یو شمېر څېړونکو له نظره په اسلامي ودانیو او په ځانګړې توګه د هدیرو او زیارتونو له پاسه جوړو شویو ودانیو کې څکه د اتڅنډېو ودانیو جوړول دود وره، چې په اسلامي معنویت کې "اته" د پام وړ شمېره ده. دا ډول تعبیر د اروپایي هېوادونو له یو شمېر ختیځ پوهانو سره شته، چې د بېلګې په توګه د (ریتاپلو) یادونه کولای شو. نوموړې د همدې نظر د ثبوت لپاره خپل یو نامتو اثر د (اتڅنډېې ودانۍ په اسلامي هدیرو کې یوه تاریخي اړتیاو او متافیکي سمبول دی) تر سرلیک لاندې لیکلی دی، خو تر کومه ځایه چې په متافزیکي سمبول پورې اړه لري، زما په اند د اتو (۸) تر شمېرې په اسلامي سمبولیکو پنځونو کې د اوو (۷) شمېره ارزښتمنه او سمبولیکه بڼه لري او ددې لپاره په عقیدتي احکامو کې د (۷) شمېرې زیات شتون ښایي ددې سمبول تر ټولو ستر لامل وي، د بېلګې په توګه اوه اسمانونه، اوه مځکې، اوه ورځې او اوه نور... په هر صورت زما په اند دا تعبیر لا نورو زیاتو څېړنو ته اړتیا لري.

د اسلامي ودانیو دریېمه غوره بېلګه د هدیرو له پاسه د برجونو جوړول دي، د هدیرې له پاسه د ډابروي او څلور یا زیات څنډېزو ودانیو ترڅنګ د لویو برجونو د جوړولو دود په ترکیه او د منځنۍ اسیا په یو شمېر نورو سیمو کې زیات تر سترګو کېږي. دا دود په ترکیه کې د (قبت ګنبد) له جوړېدو څخه راپیل شوی دی. قابوس ابن وشمګیر د خپل ځان لپاره په

۱۰۰۷ میلادي کال په خپل ژوند کې دا هدیره ودانه کړه. د دا ډول برجونو ودانول په سیمه کې د سبک له مخې د مېشتو اولسونو له پخواني ائین سره هم تړاو لري.

## په ترکیه کې د سلطانیه نامتو جومات:

تر دې لنډو یادونو وروسته په څرګنده ویل کېدای شي، چې د میرویس نیکه زیارت هم د اتڅنډو ودانیو په دود جوړه شوې ودانۍ ده، چې د جوړښت او تاریخ په اړه به یې وروسته لنډ او اړین مطالب راياد شي.

دویم: د ودانیو د ډیزاین او ښکلا آرونه: د ودانیو په جوړولو کې د ګچ برۍ میتود، بېلابېل تصویرونه او ګرافیک روش او لیکونه د ودانیو د ښکلا او ډیزاین لپاره تر ټولو معمول او دودیزې لارې دي. د ګچ برۍ میتود د ودانیو په جوړښت کې ځانګړی ځای لري، دا میتود په ودانیو کې د جوړښت یوه څرګنده برخه جوړوي، چې له یوې خوا د ودانۍ اډانه بشپړه وي او له بلې خوا ودانۍ ته ښکلی ډیزاین او شکل ښيي، خو د ودانۍ په ښکلا کې د بېلابېلو رنګونو کارول، د هندسي او غیر هندسي رسمونو لیکل، د طبیعي منظرو انځورول، د ګلانو او الوتونکو تصویرول او نور د ودانۍ په جوړښت کې رول نه لري، یوازې د ښکلا لپاره کارول کېږي.

د اسلامي نړۍ د ودانیو په ښکلا کې په زیاته کچه له موزائیک، لین ګرافیک او کالیو ګرافیک روشونو څخه کار اخیستل کېږي، چې بېلګې یې په زیاتو تاریخي ودانیو کې شته.

مثلث ډوله رسمونه، متساوي الاضلاع کربښې، څلور کونجه او دايروي انځورونه د يادو شويو روشونو لپاره د ودانوونکو (بنايانو) د اندونو د پلي کولو لپاره تر ټولو زيات کارول شوي ډولونه دي. د يو شمېر څېړونکيو په اند د ودانيو نزئيني څېړنه په دريو اړخونو کې ترسره کېږي: لومړی د بنسټ او تهداب برخه، دويم د ودانۍ بهرنۍ او پورتنۍ برخه او دريم يې د ودانۍ دننۍ برخې دي. د ښکلا پوهنې دا برخه ځان ته ځانګړي اصول او آرونه لري، چې د هر اړخيزې څېړنې فرصت يې په دې لنډه ليکنه کې نه شته، ځکه يوازې د ځينو بېلګو په يادولو بسنه کوو. يوه ستره ځانګړنه، چې د اسلامي ودانيو په ښکلي کولو کې زيات دود ده، هغه د ودانيو دننه د چت په برخه کې د اوه پوړيزو انځورونو ترسيم او تزئين دی. ددې اوه پوړيزو نقشونو پيل له وړې مرکزي نقطې څخه کېږي او په دايروي ډول اوه پوړه انځور جوړېږي، چې لومړی انځور يې وړوکی، دويم يې لږ ارت او دريم يې تر هغه دويم زيات وي او په دې ترتيب تر اوم پوړ پورې يو تر بل زياتېږي. ددې اوه پوړايز انځور ځانګړتيا دا ده، چې د ودانۍ پورتنۍ برخه په موزون ډول داسې وېشي او احاطه کوي، چې د ودانۍ له هرې برخې يې د ليدلو پر وخت توازن يو شان وي. په دې ځانګړنه کې دا اړينه نه ده، چې د ټولو ودانيو پورتنۍ برخه يا چت بايد واحد او يو شان انځور ولري، خو هغه څه چې دود ګرځېدلی هغه په ټولو ودانيو کې د چت د برخې تزئين او نقاشي کول دي، چې په زياتو اسلامي ودانيو کې ليدل کېږي.

يوه بله زيات دود شوې ببلګه په اسلامي ودانيو کې د محراب ډوله شيشک او طاقونو شتون دی. دا ډول شيشکونه يا طاقونه د ښکلا او زينت په نيت ودانيو ته ورکول کېږي. دا شيشکونه له هغو محرابونو څخه بېل دي، چې د جوماتونو د ودانيو ستره او ځانګړې ببلګه ګڼل کېږي، ولې د ښکلا دې ډېزاين ته يوازې د شيشک او محراب څېره ورکول کېږي، په دا ډول شيشکونو کې تر ټولو وړانديني موخه د ودانۍ ښکلا ده، نه هغه ځانګړتيا، چې د جوماتونو لپاره منل شوې ده. له دا ډول شيشک او محراب سره په زياته کچه دوه ستونونه جوړېږي، چې دا ستونونه يا ستنې په لاندينۍ برخه کې هم ځانګړې بنسټ يا بنياد لري او د ستون په پاسنۍ برخه کې هم همداسې ځانګړې جوړښت ورکول کېږي، چې سر ستوني او زير ستوني هم ورته وايي. دا ځانګړي فورمونه غالباً د ليتوس د ګلونو په څېر د ګچو څخه جوړ شوي دي، چې د يو شمېر پوهانو په اند ښايي له يوناني پېره راپاتې ودانيزه ببلګه وي.

د اسلامي ودانيو په تېره د هديرې او زيارت له پاسه ودانۍ يوه بله ځانګړتيا هم لري او هغه د موزونو تاخچو (تاقچو) جوړول دي د ودانيو جوړوونکي هڅه کوي او يا يې هڅه کړې ده، چې د ودانۍ په تناسب او د ودانۍ ښکلا ته په پام داسې تاخچې د ودانۍ دننه جوړې کړي او يا يې جوړوي، چې د منځنۍ ونې خاوند يو څوک هم په اسانۍ سره په هغه تاخچه کې يو شی کېښوداى شي. په دې ډول تاخچو کې زياتره هغه ديني او مذهبي کتابونه او پارې په دې نيت ساتل

کېږي، چې د زيارت کوونکو د اړتيا پرمهال ځنې ګټه واخيستل شي. ددې بېلګو ترڅنګ په زيات شمېر دا ډول ودانيو کې، کولک يا هواکښ هم په پام کې نيول کېږي، دا هواکښونه يا د ودانۍ د ضلعي دېوال په يو څه لوړه برخه کې ورته ورکول شوي دي او کله داسې هم ليدل شوي، چې د ودانۍ په ګمبزه کې ورکول شوي دي. په اسلامي ودانيو کې هواکښې يا کولک، داسې پياوړې ځانګړتيا نه شمېرل کېږي لکه په ودانۍ کې د شيشک او محراب دود او يا د ودانۍ دننه د انځورونو او نقاشيو ځانګړتياوې.

درېيم: د متبرکه او ارزښتمنو ودانيو دريځ (موقعيت): د دود له مخې هديرې او متبرکه ودانۍ ځانګړي ځايونه او ټاټوبي لري، په لوړو تپو او غونډيو کې د نورو هديرو ترڅنګ زيارتونه هم ليدل کېږي او يا په بله وينا د زيارتونو ترڅنګ هديرې ليدل کېږي، د منځنۍ اسيا په تېره زموږ په هېواد افغانستان کې د هديرو لپاره لوړې غونډۍ کارول کېږي، چې ستر لامل به يې د طبيعي پېښو په تېره له باران او سېلابونو څخه ژغورنه وي او ددې ترڅنګ ښايي دا هم د يوه لامل په توګه ياد شي، چې د متوفا د کورنۍ هيله هم دا وي، چې تر وسه وسه له خپل کلي څخه ورته د هديرې ليدل شوني وي. په ځينو فولکلوريکو لنډيو کې دا هيله څرګنده ده، لکه چې وايي:

*مومن پر لوړه غونډۍ کښېږدی*
*چې خواره مور يې هر سهار ديدن کوينه*

او یا په دري کې وایي:

*تـــابــوت مرا بر بلندی بگذارید*

*تا باد برد هوای من بر وطن من.*

د ځانګړو زیارتونو خبره بیا تر دې عام حکم لاندې نه شي خېړل کېدلای، یو شمېر زیارتونه چې د اولسونو لپاره ارزښتمن وي او یا اولسونه ورسره خواخوږي ولري، هغه بیا له هدیرو سره یوځای نه وي. په تېره ودانۍ ورته د زیارت په څېر جوړېږي او د ساتنې او پالنې لپاره یې اړینې چارې ترسره کېږي. د ملنګ، مجاور او ایشان په نوم کسان ورته د چوپړ لپاره ګمارل کېږي. یو شمېر داسې زیارتونه هم شته، چې په اولسونو کې د زیات درناوی له کبله یې د ساتنې او پالنې چارې د حکومتونو او دولتي ادارو پر غاړه وي. دا ډول ودانۍ، چې د ملي شتمنیو په څېر ورته کتل کېږي، د اړوندو هېوادونو لپاره د لوړتیا، سپېڅلتوب او وياړونو سمبول وي، زموږ په هېواد کې د میرویس نیکه، احمد شاه بابا او سخي صاحب زیارتونه، د ګوهر شاد جومات، د جام څلی، د بست کلا او یو شمېر نور له همدې ډلې اثارو څخه دي.

## د میرویس نیکه د زیارت ودانۍ:

د میرویس نیکه زیارت له هغو ودانیو څخه یو دی، چې د اسلامي پېر د ودانیو یادې شوي ځانګړنې او بېلګې له ورایه پکې څرګندې دي. دا زیارت چې د کوکران په سیمه کې ودان شوی دی، د جوړښت له مخې اته ضلعي جوړه شوې، چې د

یو شمېر خېړونکیو په اند د اسلامي ودانیو یو جوت سمبول دی. د میرویس نیکه د زیارت اوسنۍ ودانۍ په ۱۳۱۱المریز سپوږمیز کال، له سره جوړه شوه په هغه کتیبه کې، چې د کندهار ښاروالۍ له لوري ددې ودانۍ د بیارغونې پر مهال حک شوې ده، لیکل شوي، چې د جګړو او فتنو له لامله هغه پخوانۍ لوحه ورکه شوې او دا دی بیا یې د ودانۍ د رغولو پر وخت لوحه جوړه شوه

## د میرویس نیکه د زیارت ودانۍ

د زیارت دا ودانۍ اته ضلعي او د لوېې احاطې په منځ کې جوړه شوې ده، د ننوتلو دروازه یې سهیل لور ته پرانیستې او د دروازې وړاندې د انګړ تراس په نیمه مربع کې داسې ودان شوی، چې د زیارت کوونکیو لپاره د زیارت کولو د لومړي تیاري ځای په توګه کارول کېږي. د ودانۍ اوه ضلعي برابرې، خو د مخ دروازې ضلع یې دوه کنګرې زیاته جوړه کړې ده. د هرې ضلعي په بهرنۍ خوا کې د دوو، سر پر سر محراب ډوله شیشکونو شته والی ددې ودانۍ بله ځانګړتیا ده. د هرې ضلعي د پېژندلو لپاره د ضلعي پر کونج د یوه وړوکي منار بېلګه شته، چې ترمنځ یې د کنګرو (کنارو) شتون د ودانۍ بهرنۍ ښکلا څو برابره زیاته کړې ده. پر اتو ضلعو ولاړ لومړنی دابروي چت د زیاتو منارونو په وسیله د هغه لوړ او پورتني ګومبذې ښخه بېل شوي دي. چې ددې ودانۍ د بهرنۍ ننداري تر ټولو ستره بېلګه ده. د ودانۍ پر ببلاببلو برخو د ښو او ابي رنګونو زیات

کارول پر دې زيارت د اسلامي دود بر لاسي ښيي.

د زيارت دننه جوړښت هم د اسلامي ودانيو په دود ښکلى شوى دى. د اضلاعو کونجونه داسې يو له بل سره پيوند شوي دي، چې د ليدونکي پام د هغې ودانۍ کونجونو ته نه، بلکې کارول شويو انځورونو او رنگونو ته اوړي. د ودانۍ په منځ کې د هديرې تمثال دى او شاوخوا يې په بېلابېلو ضلعو کې محرابونه او د محرابونو ترمنځ تاقچې جوړې شوي او د دود له مخې هلته د قرآن عظيم الشان رحيلونه او پارې ايښودل شوي دي، چې زيارت کوونکي يې د زيارت کولو پر مهال لولي او يا يې په سمبوليکه توگه مسح کوي. د چت برخه په منظمو هندسي ليکو ښکلې شوي او د ضلعو پر مخ بېلابېل انځورونه، چې د سلطاني، تيموري او مغولي هندي سبک گډ شکل دى، کښل شوي دي. له لين گرافيک او کاليوگرافيک روشونو څخه په زياته اندازه کار اخيستل شوى دى، چې همدې روشونو د ودانۍ دننه برخه زياته ښکلې او ځانگړې کړې ده.

## د ميرويس نيکه د زيارت دننه د انځورونو بېلگه:

د ميرويس نيکه د اوسنۍ ودانۍ د جوړېدو مهال په هغه ډبرليک کې ښه څرگند دى، چې پر هغه مزار لا تراوسه شته. دا لوحه په پښتو او دري ژبو ليکل شوې ده، په دې برخه کې ددې لوحې د پښتو متن څخه يوه برخه کټ مټ راوړم، چې هلته د جوړېدو چارو ته هم پام ساتل شوى دى:

*"دا مرقد د ښاغلي توريالي پښتون او محرک د ازادۍ د*

پښتانه مرحـوم حـاجي ميـرويس خـان نيکـه هوتـک ده ی چـه پـره دی ئیٔ له خپلی ښادمنی مینـی پـه میرانـه وویسـتل او پښتانـه یـې لـه استیلا څخـه د متجـاوزينو ازاد کـړه. اتـه کالـه ئـې حکومـت وکـې او پـه کـال ۱۱۲۷هـ ق يـوزر اوويشـتم کـال قمـري کـې د هجـرت وفات سوه ی ده ی دا جانـب او جګـړو لوحـه ورکـه سـوه. پـه کـال ۱۳۵۱هـ ق ۱۳۱۱هـ ش کـې پـه دريـم کـال د سـلطنت د اعليحضـرت پښتون محمد نادر شاه په توجـه د ښاغلی پښتـون محمـد ګـل خـان مهمنـد رئـيس تنظيمـه د قنـدهار پـه يادګـار د حميـت او لـوړو خـدمتونو ددی ننکيـالی پښتـون او ښـاغلی نيکـه او د پـاره د احيـای ملی افتخـاراتو بيـا دا مرقـد نـوه ی ودان او تعميـر او احاطـه ارت او يوه باغچه ورته سـازه کـړه سـوه. دا لوحـه د رياسـت بلديـه لـه خـوا وليکل سوه."

## د میرویس نیکه د زیارت لیکنې:

د پـايلې پـه توکـه يـو څـو اړيـنې يـادونې: د ميـرويس نيکـه دا اوسـنی زيـارت لا سـل کلـن شـوی نـه دی، خـو د جوړيـدو او ودانولـو داسـې پـړاو رانبيـي، چـې د پخـواني دود او نـوي سيسـتم ترمنځ د پيوند کړی ده. پـه ښکـلا او ډيـزاين کـې يـې د سيمه ييـزو جوړوونکيـو (بنائيـانو) خيـال او هنـر څرګنـد دی، د انځورونـو پـه جوړولو کې زيات پام شوی، پـه داسـې حـال کـې چـې د لوحـو او ډبرليکونـو بـرخې تـه نـه يـوازې دا چـې زيـات پـام نـه دی شـوی، بلکې يو شمېر بنسټيزې تېروتنې هـم پکښـې ليـدل کېـږي، کـه يـې لـه پښتـو مـتن او ليکـدود څخـه راتيـر شـو، چـې زيـاتې تېـروتنې

لـري، د پـوې ببلگـې پـه توگـه بـه د هغـې تـاريخي نښـې يادونـ وکـړو، چـې سـمون يـې اړيـن دی. د کتيـبې پـه ليکنـه کـې پـه اعـدادو ۱۱۲۷هـ ق کـال ليکـل شـوی دی، خـو پـه ليـک يـو زر او اوويشتم ليکل شـوي دي. پـه دې ډول د سـل کـالو زمـاني واټـن پـه تـورو کـې لـه پامـه غورځـول شـوی دی. ددې يـادونو تـرڅنگ د يوې بلې اړيـنې او وروسـتۍ يـادونې پـه توگـه غـواړم ولـيکم، چـې سـتر پښتـون محمـد گـل خـان مهمنـد ددې ودانـۍ پـه جوړولـو د حـاجي ميـرويس خـان نيکـه د نـوم سـره خپـل نـوم تلپـاتی او همېشنی کړی دی.

***د ملي اتلانو برم دې تلپاته او د لارويانو عزم دې پياوړی وي.***

اخځونه:


۱ـ باوري، رسول. د منځني ختيځ لرغونپوهنه، (کابل: کابل پوهنتون) ۱۳۶۷

۲ـ پلو، ريتا، هشت ضلغی در مقبره ها سمبول ميتافزيکی، مترجم: کيوان. باستانشناسي افغانستان شماره دوم، سال دوم. (کابل مطبعه دولتی) ۱۳۵۹

۳ـ حبيبي، عبدالحی. تاريخ افغانستان بعد از اسلام. (کابل: مطبعه دولتی) ۱۳۵۷.

**یادښت: د ښاغلي دوکتور عبدالصمد حامد مقاله دکتاب تر چاپ وروسته راورسېده، نو ځکه مو په پای کې واچوله.**

*دوکتور عبدالصمد حامد*

# میرویس نیکه

## زموږ د اوږده تاریخ له ځلاندو څېرو څخه یوه ځلانده څېره

په بشري ټولنو کې د انساني غریزو پر بنایو ګډ دود دا دی چې د خپل تاریخ د خاصو حیاتي او ځلاندو پېښو درنښت ، د هاغه وخت د مؤثرو ځلاندو څېرو او لویو شخصیتونو د نمانځنې په وجه کېږي.

د ملي ژوندانه په بهیر کې د دې اشخاصو خصوصیت او اثر د دې عامل هم ګرځي چې سربېره پر مؤرخینو او نورو محققینو ، نورو هېوادوالو ته هم دا امکان تر لاسه کېږي چې د دوی په اړوند خپل نظر وړاندې کړي.

زه مؤرخ نه یم ، نو دلته به د یو غیر مسلکي هېوادوال په توګه د خپلو محدودو معلوماتو پر اساس د میرویس نیکه پر شخصیت ، د ده پر مبارزې ، د ده د ژوندانه پر سیاسي، ټولنیز ماحول او د ده د مبارزې اثر زموږ د هېواد او سیمې د تاریخ پر بهیر باندې په لنډ ډول نظر په عرض رسوم . له دې یادونې سره چې دا نظر به ډېرې نیمګړتیاوې ولري، هیله ده چې د دې اعتراف په وجه زما احتمالي قصور وبخښئ.

درنو حاضرینو ، ستاسو په اجازه به لومړی زموږ د تاریخي لویو شخصیتونو د نمانځنې په اړه دوه مطلبه په لنډ ډول په عرض ورسوم.

د هېواد د تاریخ د لویو شخصیتونو د تجلیل په ارتباط کله کله هم زموږ ځیني هېوادوال د بېلابېلو عواملو له کبله په ارادي او یا غیر ارادي توګه د دې ځلاندو څېرو د نمانځنې په لړ کې د خپلو هېوادوالو تر منځ کرکه او حتی دښمني پیدا کوي او یا یې هم زیاتوي. هیله ده چې د دې محفل د خبرو یو اثر دا هم وي چې حتی المقدور د دې مخنیوی وشي.

همدا راز د لویو شخصیتونو نمانځنه زما په نظر په خپل جوهر کې تر یوه حده دا هم ایجابوي چې تجلیل کوونکي نسلونه د خپل زمان او مکان د شرایطو په نظر کې نیولو سره د دغو شخصیتونو اعمال او افکار منعکس کړي.

یو شمېر خارجي مؤرخین او د دوی یو شمېر افغاني مسلکي او غیر مسلکي مقلد مؤرخین په خپلو اثارو کې د احمد شاه بابا دوره یعنې اتلسمه پېړۍ او یا حتی د امیر عبدالرحمن خان دوره یعنې ۱۹ پېړۍ د افغانستان د تاریخ پیل معرفي کوي.

دلته دا پوښتنه مطرح کېږي چې د افغانستان او د هغه د سیمې د ګاونډیانو په ګډون د دې سیمې د اولسونو او هېوادونو د زرګونو کلونو نورو تاریخي پېښو سره باید څه معامله وشي؟ ایا زموږ په ګډون د دې اولسونو ټول تاریخي افتخارات په تېرو زمانو کې د دوی له مړینې نه وروسته د مړو ، بې وارثو او میراتو قامونو په حیث له دوی سره یو ځای خاورو ته سپارل کېږي او په هېرتیا محکومېږي ؟

حقیقت خو دا دی چې د څو مؤرخینو له خوا د وضع شویو نویو معیارونو پر اساس تاریخي واقعیتونه له منځه نه شي تللی ، ځکه چې د دې سیمې د هېوادونو او اولسونو تاریخ د معاصر وخت د ملي دولتونو لپاره د وضع شویو معیارونو پر بناء د څېړنو نه امکان شته او نه ضرورت. بلکه باید د هغوی د خپلې زمانې د سیاسي او ټولنیزو خصوصیاتو پر بنا د قضاوت له لازمو موازینو سره سم وکتل شي. له دې کبله ښایي چې په دې اړوند لاندیني مطالب په نظر کې ونیول شي:

۱ . د افغانستان په ګډون زموږ د سیمې (۱ ) ټول هېوادونه د خپل اوږده تاریخ په بهیر کې په خپل اوسني نامه او له خپلو اوسنیو جغرافیایي حدودو سره سم کټ مټ سابقه نه لري ، که نه دې نتیجې ته به ورسېږو چې که له یوې خوا نه د افغانستان تاریخي سابقه په یو حساب تر اتلسمې پېړۍ (احمد شاه بابا ) پورې او په بل حساب تر نولسمې پېړۍ ( امیر عبدالرحمن خان ) پورې محدوده شي. له بلې خوا نه به زموږ د سیمې د ګاونډیو هېوادونو تاریخي سابقه له شلمې پېړۍ نه تجاوز ونه کړي (۲ ) خو واقعیت دا دی چې د تاریخ د بهیر دا سې تفسیر به هیڅوک قانع نه کړي.

۲ . د دې سیمې هېوادونه د خپل اوږده تاریخ په بهیر کې د اوسنیو موازینو

پر بنا ملي دولتونه نه وو ، بلکه د هغې زماني تر شرايطو لاندې د حاکمو کورنيو حکومتونه وو چې اولسونه د بېلابېلو عواملو په وجه د هغوی پر شاوخوا ټولېدل، ځکه به يې وده کوله. کله به مختنق کېدل، کله به دغې حاکمې کورنۍ د جګړو په واسطه خپله ساحه پراخوله او کله به د نورو تر سلطې لاندې راتلل او له منځه تلل ، ښارونه به سوځېدل. ورانېدل، په زرګونو خلک قتل عام کېدل، ټولنيز جوړښت به بدلېده، تهذيبونو خپله مجرا بدلوله او د هغوی په کيفيت او نومونو کې بدلون راته ، خو له دې ټولو بدلونونو سره سره د دوی دولتونه او تهذيبونه بيخي له منځه نه تلل او په يو يا بل ډول په کې يو نوع تشکل وجود درلود.

۳ . په هر صورت د افغانستان د تاريخ بهير تر دې قاعدې لاندې راځي او د دې هېواد نومونه له اريانا نه نيولي تر افغانستان پورې ، په حقيقت کې د دې تاريخي بهير د معينو مقطعو نومونه دي چې د خپلو جغرافيايي حدودو په اړوند د افغانستان له اوسنيو حدودو سره پوره توافق نه لري. د دې تاريخي مقطعو په ځينو کې به زموږ د اوسنۍ خاورې زياتې ساحې شاملې وي ، په ځينو کې به زموږ د هېواد د اوسنۍ ساحې د يوې برخې تر څنګ نوره ساحه هم شامله وه او ځينو زموږ د اوسنۍ خاورې يوه برخه احتوا کوله ، په بله وينا : د دې خاورې نوم چې اوس افغانستان دی ، د سيمې د اوسنيو ډېرو هېوادونو په څېر ، د خپل څوزره کلن تاريخ په بهير کې کله د لويو امپراتوريو او سلطنتونو هسته او د نويو تهذيبونو مبداء و ، کله هم د هغوی په څنډو کې واقع شوی و ، او يا هم د نسبتاً لويو او وړو سياسي او تر ډېره حده د خپلواکه واحدونو ماهيت يې لرلو او کله هم د دوو او يا ډېرو امپراتوريو او يا نورو سيمه ييزو ځواکونو تر منځ ويشل شوی و

۴ . زموږ اوسنۍ خاوره د اولسمې پېړۍ له يوې برخې نه د اتلسمې پېړۍ تر يوې برخې پورې چې د ميرويس نيکه د مبارزې زمانه هم په کې شامله ده ، تر ډېره حده د هغه وخت د دريو ګاونډيو (د فارس د صفويانو ، د ماورالنهر د شيبانيانو او د هند د مغلو ) تر لاس لاندې و . کندهار ، سيستان او هرات عموماً د صفويانو تر سلطې لاندې و .

۶ . دا واقعيت د پام وړ دی چې د افغانستان په ګډون د سيمې د هېوادونو تاريخي پېښې له يوه او بل سره دومره تړلي دي چې د دې هېوادونو د يوه هم په

مستقل او د نورو هېوادونو د تاریخ نه په جلا بڼه نه شي څېړل کېدای.

میرویس نیکه او د هغه د مبارزې په مقابل کې بهرني او کورني خنډونه او د هغې په ګټه ځیني عوامل:

که زموږ د اکثرو نورو مبارزینو په شان د میرویس نیکه د مبارزې په مقابل کې هم زموږ د اولس ذات البیني بې اتفاقي او د قبیلې او قام په کچه ځینیو دښمنیو ستر خنډ جوړاوه، بله ستونزه دا وه چې زموږ د هېواد په جنوبي، غربي، او ختیځه برخه کې (پرته له غوریانو څخه) له نورو پښتنو سره د خپلواکو، ځواکمنو سلطنتونو د مشرتابه سابقې او تجربې، هغه خاص احساس چې د هند په نیمه وچه کې مېشته لودیاتو او سوریانو لاره، موجود نه و، نو له دې کبله دا هم څه اسان کار نه و چې اولس دې ته وهڅول شي چې د پردیو له قید نه ځان خلاص او په خپلواک هېواد کې د خپلو عقیدوي او دودیزو ارزښتونو سره سم خپل ټولنیز او سیاسي ژوند تاءمین کړي.

د میرویس نیکه د مبارزې په مقابل کې بله ستونزه دا هم وه چې په سیمه کې د هېوادونو د قدرت د توذیع نظام داسې و چې نه د هند مغول او نه هم د ماورا النهر شیباني اوزبک دې ته حاضرېدل چې د میرویس نیکه او زموږ د نورو هېوادوالو په ګټه د فارس د صفوي سلطنت مقابله وکړي، ځکه چې دوی دواړه په دې اند ښنه وو چې زموږ د هېوادوالو برې به په دې سیمه کې د ځواکونو تر منځ موجود تعادل د دوی په ضرر بدل کړي. ځکه چې زموږ د خلکو هغې برخې هم چې د دوی تر لاس لاندې وه، څو څو ځلې محلي ناارامی جوړې کړې او قیامونه یې کړي وو.

د میرویس نیکه د مبارزې په ګټه دغه عوامل اغېزمن وو:

د صفوي پاچا سلطان حسین په دوره کې د افراطي مذهبي تعصب په وجه، د کندهار او هرات پر خلکو باندې د ظلم په واسطه او په خاصه بیا په کندهار کې د صفوي والي ګرګین د بد سلوک له کبله د کندهار اولس تر ډېره حده راپاریدلی و. زموږ د هېواد درې واړه ذکر شوي ګاونډیان د ماورالنهر شیباني ازبک سلطنت، د هند مغول امپراتوري او د صفویانو سلطنت عملاً د خپل قدرت په انحطاطي حالت کې واقع وو. همدا راز په داسې حال کې چې زموږ د خاورې پر ځینو برخو د دوی تر منځ جنګونه هم کېدل، د هېواد په ډېرو برخو کې د درې واړو ځواکونو په مقابل کې د خپلواکی مقاومتونه هم پیدا شوي وو.

میرویس نیکه څوک و؟

۱ . که څه هم دی په اصل کې هوتک ، غلجی ، پښتون و خو د خپلې اسلامي عقیدې له برکته او د اسلامي ورورولۍ او نورو درنو اسلامي اخلاقي او ټولنیزو اصولو ته د خپل تعهد له کبله پر قامي برتریت باندې معتقدنه و او د ده مبارزې یوازې قامي صبغه نه درلوده.

۲ . که څه هم دی د هوتکو معتبرو کورنیو ته منسوب و، خو دا په خپل ذات کې کفایت نه کوي چې یو سړی دې له دې کبله د یوه هېواد د نسلونو نسلونو لپاره د احترام وړ او د لوی شخصیت د خاوند حیثیت وګڼي ، که نه د ده د ورور عبدالعزیز (عبدالله خان ) په ګډون به د ډېرو نورو معتبرو کورنیو بچیانو ته هم دا نعمت تر لاسه شوی وای.

۳ . دی فقیر نه و او په دې هم خوښ و چې بډای دی ، ځکه دی پوهېده چې د ده د مبارزې په لاره کې شتمني او د هغې مصرف ډېر ګټور دي. همدارنګه د ده له کردار څخه دا په ډاګه کېږي چې دی نه د شتمنۍ مریی و او نه هم بډایتوب د ده د ژوندانه اصلي هدف ګرځېدلی شوای.

۴ . دا ورته ثابته وه چې سیاست یوازې په خبرو نه کېږي ، بلکې د خبرو تر څنګ کردار ، توره ، خطر قبلول او قدرت هم په کار دی ، نو له دې کبله په عمل کې هیڅکله له تدبیر ، صبر او احتیاط نه ، نه دی منصرف شوی او په همدې خاطر د ده مبارزه د نسبتاً اوږدې مودې لپاره سیاسي مبارزه وه ، نه دا چې د یوې لنډې جګړې د برې په شکل.

۵ . د ده د مبارزې هدف دا نه و چې د خلکو له اعتماد نه په ناوړه استفادې سره د مشرتابه مقام ته له رسېدلو نه وروسته ، د شخصي ګټو د لاس ته راوړلو په نیت د خپل اولس په ضرر له غلیمانو سره معامله وکړي ، لکه چې د ده یاد شوي ورور د میرویس نیکه تر مړینې وروسته وکړه.

د اولس له مشرتابه نه د ده تفسیر دا و چې یو له بل سره د متفقو خپلواکه خلکو په ډله کې خپل د شخصیت ، استعداد او ایثار په وجه داسې مقام تر لاسه کړي چې له خپل اولس سره د تفاهم پر اساس ، د ټولنې په خیر ګډ تصمیمونه ونیسي او لارښودنه وکړي ، نه دا چې پر مطیع رعیت باندې د پادشاه په لقب خپله باداري وچلوي. د میرویس نیکه له نظره ، په حقیقت کې د مشرتابه مانا له دې متل سره افاده کېدله: (( ته چې خان یې په یاران یې !)) یعني د خپل اولس له

غړيو سره د اولس د مشر داړيکو خصوصيت بايد د يارانو تر منځ د سلوک په شان وي او نه د حاکم او محکوم او يا بادار او مزدور په څېر . نو په داسې حال کې چې د سيمې او ګاونډيو هېوادونو مشران حتی د سلطنت په نامه هم قانع نه وو ، بلکې له پاچاهۍ نه هم د لوړو لقبونو په لټه کې وو ، د ميرويس نيکه نظر په دې باره کې دا و چې د دې پر ځای ، په ټولنه کې د ظالمانو له ظلم نه د مظلومانو خلاصون په اصل کې د يو مشر د عزت او جلال باعث ګرځي.

۶ . دی عملاً په دې معتقد و چې د يوه هېواد په کورنيو او بهرنيو چارو کې ، تر کومه حده چې امکان ولري ، له خپلو دوديزو وسايلو لکه جرګو څخه کار واخيستل شي.له دې کبله د کندهار ښار د خلکو له ازادېدو نه وروسته ، د لوی کندهار د خپلواکۍ اعلان هم د مانجې د تاريخي ملي جرګې له خوا وشو . په دې ارتباط دا هم د يادونې او پام وړ دي چې له دې نه پخوا هم د کندهار د خپلواکۍ د مبارزې په بهير کې د اصفهان دربار ته د شکايتونو او نورو وړانديزونو لپاره جرګې ټاکل کېدلې چې له يوې خوا نه په صفوي دربار کې له لازم حيثيت سره د کندهار د اولس داستازي په توګه هغوی ته د خپل اولس نظر منعکس کړي او له بلې خوا په دې توګه حتی المقدور د اولس د ډېرو برخو ملاتړ هم د دوی د مبارزو په ګټه تر لاسه کړي.

۷ . سره له دې چې ميرويس نيکه قامي دودونو ته په ډېر اهميت قايل و ، خو دا هم ورته معلومه وه چې په خاصو وختونو کې د دودونو د تحقق لپاره د خاصو شرايطو بربرول هم د اهميت وړ او ضروري دي . په دې ارتباط د مانجې د ملي جرګې دايرول او هم د هغې د وخت ټاکل د پام وړ دي . دا کار هغه څه تايدوي چې مخکې ورته اشاره وشوه چې سياست يوازې په خبرو نه کېږي ، بلکې تدبير ، توره او عمل هم ايجابوي . په دې کې شک نشته چې د مبارزې په لړ کې به د مانجې تر جرګې د مخه هم وړې او پټې جرګې دايرې شوې وي او لازم تصميمونه به يې هم نيولي وي، خو اقلاً ما ته داسې کومه جرګه نه ده معلومه چې د مانجې د ملي جرګې په څېر په کې د پوره او همېشنۍ خپلواکۍ او د فارس د دربار له اطاعت څخه د خلاصون علني اعلان دې په کې شوی وي . ځکه چې د ده په نظر د داسې يو مطلب د تحقق لپاره بايد لازم شرايط برابر شوي وای ، چې له يوې خوا نه په جرګه کې ګډون کوونکي خلک د اولس د دومره لويو حلقو د ارادې واقعي ممثلين وي او دې ته هم حاضر شي چې له شرايطو سره سم تصميم هم ونيولی

شي او له بلې خوا نه باید په عمل کې تر ډېره حده پورې د جرګې د پرېکړو د تحقق امکان هم موجود شي.
له همدې کبله و چې میرویس نیکه په کندهار کې، په اصفهان کې، په حج کې او بیا په اصفهان او کندهار کې له لازمو تدبیرونو سره د جرګې د بري لپاره ضروري مقدماتي اقدامات کړي وو او په خاصه توګه یې هم د جرګې غړو ته دا ثابته کړه چې دی یوازې د خبرو سړی نه دی، بلکې د تورې او تدبیر سړی او مسلمان مبارز هم دی. د ګورګین او د هغه د ډېرو عسکرو په وژلو او د نورو په شړلو سره یې د کندهار ښار ازاد کړی و او د دې کار شرعي اجازه یې هم د حرمین شریف د علماوو د قاطع او واضح فتوا په وجه د جرګې غړو ته وړاندې کړه.
۸. که څه هم میرویس نیکه لکه د خپلو نورو عزیزانو او هېوادوالو غوندې کومه رسمي دیپلوماتیکه وظیفه نه لرله خو د خپلې اوږدې مبارزې په بهیر کې یې دا عملاً ثابته کړه چې د صفوي دربار د دیپلوماتانو او سیاستوالو، له یوه څخه یې هم څه کمی نه درلود. هغه ډېر ژر د صفوي دربار په خصوصیت، کمزورو او قوي ټکو پوه شو او په اصفهان کې د خپل یرغمل توب په وخت کې هم له ټولو خنډونو او ستونزو سره سره په دې بریالی شو چې د صفوي پاچا شاه حسین او د هغه د مؤثرو درباریانو اعتماد ترلاسه کړي.
د ده دا کار ثابتوي چې د ده مبارزه په نظري توګه په خاصو قیودو کې مقیده نظریه نه وه، بلکه له خپل هدف څخه تر تېرېدو پرته یې د هر وخت د ایجاب او ضرورت پر بنا لازم عکس العمل څرګندولی او بد حالت یې په ښه حالت بدلولی شو.
۹. دی نه یوازې پخپله معتقد مسلمان و، بلکې په دې هم پوهېده چې د اولس قاطع اکثریت ځان اسلامي ارزښتونو ته متعهد بولي او له دې کبله یې په لومړۍ درجه کې د خپلې اسلامي عقیدې پر بناء او نه یوازې د سیاسي ایجاباتو له کبله دا تصمیم ونیو چې د کعبې شریفې په زیارت مشرف شي او حج وکړي. نو له دې کبله یې په ډېر دقت او تدبیر وکولای شول چې له خپل یرغمل توب سره سره له صفوي دربار څخه د حج د سفر اجازه ترلاسه کړي. د خلکو په مافي الضمیر باندې یوازې الله تعالی عالم دی خو د اسباب په عالم کې د میرویس نیکه د ژوندانه له بهیر څخه داسې معلومېږي چې د حج په ارتباط د اسلامي نورو ارزښتونو تر څنګ یې قراني دوو ارشاداتو ته هم توجه لرله. یو یې د هغه ایت ارشاد دی چې خدای مسلمانانو ته د دعا په حیث هدایت ورکوي. په دې مانا چې

د خدای له دربار نه د دنیا او اخرت د ښېګنو غوښتنه وکړئ. دا دعا هم د لمانځه په پای کې او هم د حج په مراسمو کې د کعبې شریفې د طواف په وخت کې د خدای (ج) حضور ته کېږي. بل هغه ایت دی چې د هر مسلمان د ورځنیو چارو په اجراء کې ورته امر کېږي، یعني چې په خپلو چارو کې یو له بل سره مشوره وکړئ او له هغه وروسته تصمیم ونیسئ او پر الله تعالی توکل وکړئ. د دې ایت د حکم ډېر مهم ځای د حج په وخت کې مکه معظمه ده.

ددې دواړو آیاتونو په پیروۍ به احتمالاً میرویس نیکه د حج په وخت کې د خپل ژوندانه ډېر مهم تصمیم هم نیولی وي. نو ځکه داادعا به احتمالاً غلطه نه وي چې د میرویس نیکه حج دداوړو اړخونو د دنیا او عقبی د ښېګنو د لاس ته راوړلو په نیت پخپل جوهر کې د خدای په دربار کې د استدعا، د مینې او تسلیم یو سفرو.

څنګه چې معلومه ده، ده د حج په وخت کې د مکې مکرمې او مدینې منورې له اسلامي علماوو سره نه یوازې ملاقاتونه وکړل، بلکې له هغوی نه یې د خپلو غوښتنو په ځواب کې فتوا هم ترلاسه کړه.

د فتوا په ارتباط طرح شوې دوې پوښتنې دا څرګندوي چې پوښتونکی د فتوا له لارې د بل چا حق غصبول نه غواړي او نه یې هم دا مطلب دی چې مظلوم په ظالم او ظالم په مظلوم بدل شي، بلکې د اسلامي نظام په حدودو او مرسته د ټولنې د مظلومو اقلیتونو د حقوقو ساتل غواړي، چې د ضرورت په وخت کې باید د خاصو شرایطو لاندې د دې هدف د تحقق لپاره د مقاتلې اجازه هم شوې وه.

له حج نه د اصفهان دربار ته د بېرته راستنېدلو وروسته په دې بریالی شو چې په دربار کې د سلطان حسین صفوي او د دربار د یو شمېر موثرو غړو نظر په قندهار کې د دوی د ګرجي والي ګرګین په مقابل کې خراب کړي. قندهار ته تر رسېدو وروسته میرویس نیکه د خپلې مبارزې د ډېرې مهمې مرحلې د ترسره کولو لپاره په کار لاس پورې کړ او په دې اړوند یې دوړو او پټو جرګو په واسطه د خپلو نږدې مبارزو ملګرو د مشورې په اساس لازم تصمیمونه ونیول. او د هغوی د پلي کولو لپاره هم لازم تصمیمونه ونیول شول چې په نتیجه کې ګرګین او د ده یو شمېر عسکر ووژل شول او نور یې له قندهار نه وتښتېدل.

نو پس تر دې چې قندهار عملاً ترډېره حده د صفویانو له لاسه خلاص شو، د مانجې د ملي جرګې په دایرولو یې لاس پورې کړ. یعني پس تر دې چې د سیاست عملي اړخ یې تر یوه حده پورې تحقق ومند، د درست ولس د ارادې د ممثلینو

دغو نډې له خوا دصريح ، علني او قطعي پرېکړې په واسطه زموږدهېواد داوږده تاريخ په يوې حياتي مرحلې کې دپوره تدبير ، ايثار ، ايمان او اتحاد په برکت يو ځلانده بريا ليتوب زموږدولس په برخه شو . ددې جرګې له اعلان وروسته دجرګې غړي چې درست يې يواړې له کندهار او نورو پښتنو څخه نه وو جوړ شوي ، بلکې دبلوڅو او نورو قامونو استازي هم پکې وو ، په دې بريالي شول چې دميرويس نيکه په مشرتوب خپل خلک دخپل اعلان شوي حق ددفاع لپاره تيار کړي .

دمانجې جرګه له دې امله يوه خاصه او ځلانده تاريخي پېښه وه ( ١٧٠٥ ) چې د څه کم يوې پېړۍ په اوږدو کې پر لوی کندهار باندې اکثرأدصفويانو سلطې ته په قطعي ، علني او مداومه توګه دختم اعلان وشو او عملاً هم دفارس دلښکرو په مقابل کې دلوی قندهار ولس دخپل ايثار اولازم تدبير په وجه برلاسی شول .

دميرويس نيکه دمبارزې او دمانجې دملي جرګې دفيصلو نه دخلکو ددفاع په وجه دافغانستان او دسيمې دسياست په ډګر کې يو نوی او اغېزمن عنصر هم وارد شو او دميرويس نيکه دزوی اوورارہ ( شاه محمود او شاه اشرف ) په لاس صفوي سلطه له منځه لاړه . خو په خاصه توګه دشاه محمود خراب سلوک او ظلم دفارس له ولس او حتی صفوي پادشاه سره عملاً ددې سبب شو ، چې ديوه فارسي مدبر او ځواکمن شخصيت يعنې افشار نادرشاه په مشرۍ ، فارسيان نه يوازې دهوتکو دپاچايانو په مقابل کې په بري سره پاڅون وکړي اونه يوازې دهوتکو سلطه له منځه يوسي ، بلکې دصفوي دورې نه لا لويه امپراطوري جوړه کړي او افغانستان هم ددې امپراطورۍ يوه برخه وګرځي .

خو څرنګه چې افغانستان دمانجې دجرګې په واسطه دلومړي ځل لپاره نه دی ايجاد شوی ، نو هماغسې هم دهوتکو دکورنۍ دسلطې له سقوط او دافشار نادرشاه دامپراطورۍ له جوړولو سره سم هم له منځه نه دی تللی ، بلکې داسبابو په عالم کې ، له لرې وقفې نه وروسته دهېواد ديوه بل ستر شخصيت او ځلاندې څېرې ، يعنې دراني احمد شاه په لاس ببرته خپل مناسب او دقدروړ مقام ترلاسه کړ .

داحمدشاه بابا دلوی شخصيت ، تدبير او مېړانې په وجه نه يوازې داچې کندهار دفارس دافشار امپراطورۍ له منګولو څخه خلاص شو ، بلکې کندهار ته دلوی افغانستان دمرکز حيثيت وروپه برخه شو .

په دې اساس ددې هېواد دواړو ځلاندو څېرو د هغه وخت تقريباً څلوېښت کلن تاريخ په بهير کې ددوو سترو ، ديوبل متممو تاريخ جوړونکو مشرانو په حيث دافغانستان دنوي نظام بنسټ کېښود. څنګه چې ميرويس نيکه په دې بريالی شو ، چې دافغانستان دخه دپاسه ديوې پېړۍ دتجزيې حالت تياره شپې ته دپای ته رسولو لپاره لومړنی اوډېر مهم ګام کېږدي ، له بلې خوانه احمد شاه بابا نه يوازې داچې تقريباً څلوېښت کاله وروسته دمانجې دملي جرګې په شان دبلې مهمې جرګې په تصميم ( په شېرسرخ کې )دپاچا په توګه دغنمو دبوټي تاج په سر کولو سره پاچاشو اونه يوازې کندهار يې بېرته آزاد کړو ، بلکې دخپل لوی شخصيت په اساس او احتمالاً هم دنوي لويې امپراطورۍ دجوړولو په ارتباط داحمد خان پرځای داحمد شاه بابا لقب يې هم په برخه شو .

خو لکه چې معلومه شوه ، موږ دخپل تاريخ دځلاندو او تيارو شپېو ترمنځ دروان مزل او بدلون په وخت کې داحمد شاه بابا دامپراطورۍ له سطحې نه ژر خپل انحطاطي حرکت په وجه اوس اوس په سخت تورتم کې ګير يو او دنړۍ د ډېرو ترحکم لاندې په خپل کور کې او دنړۍ په ټولو برخو کې دخوارواوخورو خلکو په توګه دننګ ژوند کوو .

زموږ ددې بدمرغۍ له ټولونه زيات ، لوی ، دردونکی او شرموونکی عامل دادی چې زموږ غليم په اصل کې زموږ په خصلت کې دننه دذات البيني نفاق په شکل وجودلري .

ددې مرض چاره لکه چې دميرويس نيکه او احمد شاه بابا له ژوندانه څخه معلوميږي ، مؤثره چاره نه يوازې زموږ دسترواتلانو له لاسه په اساسي توګه پوره وه ، او لکه چې وموليد او لايې هم ګورو نه په دې کېږي چې دنورو په ټاکنه او هدايت موږ باندې خلک دناچلو مشرانو او اتلانو په حيث تحميل کړي.نو له اله تعالی څخه دااستدعا کوو ، چې داتوان موږ ته راپه برخه کړي چې خپل خپل ايماني او اخلاقي ارزښتونو او نېکو دودونو باندې داتکا او خپل خالق باندې دتوکل په برکت . دې غليم باندې داسې برلاسي شو چې اوسنۍ تياره شپه مو په نېکمرغه روښانه ورځ بدله شي. خو داهدف تش په خبرو تحقق نه مومي بلکې ايمان او ايثار غواړي . چې داله تعالی هغه وعده ترسره شي چې قران کې يې موږ ته ابلاغ کړې:

اله تعالی په يوه قام کې بدلون نه راولي ترڅو دوی پخپلو ځانو کې بدلون رانه ولي. ( د الرعد سوره ۱۱ آيه ) ومن الله توفيق

لمن لیک:

۱ ــ سره له دې چې چین زموږ د نورو پنځو ګاونډیو ترټولو ګاونډی هم دی او هم زموږ له سیمې سره دور سیم له لارې ارتباط لري ، او سره له دې چې بودیزم زموږ له خاورې نه چین ته منتقل شوی دی . خو بیا هم چین زموږ د سیمې او زموږ سیمه د چین په حاشیه کې واقع شوې دي ، او زموږ د سیمې یوه برخه نه وه . زموږ سیمه ترکیه ، عربستان (عراق ، سوریې ، فلسطین او د خلیج د نورو هېوادونو په ګډون ) ایران ، مرکزي آسیا ، د هند شمالي برخې او افغانستان احتواکوي . په داسې حال کې چې د هند جنوب ، چین او قفقاز زموږ د سیمې د ګاونډیو حیثیت لري .

۲ ــ د ایران او سني نوم د شلمې پېړۍ په دریمه لسیزه کې د فارس نوم د تعویض په وجه رسماً د پهلوي کورنۍ د مشر رضا خان له خوا وټاکل شو .

۳ ــ د ځینو منابعو په روایت په اتلسمه پېړۍ کې د اسلامي ټولنې د اصلاح لپاره تر یوه حده پورې نوې حرکت رامنځته شوی و چې په هغې کې د حرمین شریف علماوو خاص نقش درلود . د دغو علماوو تر تأثیر لاندې محمد عبدالوهاب په حجاز کې د وهابي حرکت او شیخ ولي الله دهلوي حرکت په هند کې او په شمالي افریقا کې نوی حرکت منځته راغلل . یعنې دغو علماوو په یو شکل د اتلسمې پېړۍ پراوسنیو حرکتونو اغېز درلود او د هغوی د الهام مرجع و . نو ښایي میرویس نیکه به له دې کبله هم له دوی څخه د فتوا د ترلاسه کولو هڅه کړې وي . د اتصادف هم د پام وړ دی چې څه د پاسه څلوېښت کاله وروسته د میرویس نیکه د فتوا اخیستو نه وروسته شاه ولي الله دهلوي د هند د علماوو په مشرتوب له احمد شاه بابا نه د مرهټې د هندوانو په مقابل کې د اسلامي تساند پربنا د نظامي مرستې غوښتنه کوي ، چې د ده له خوا هم عملاً له دوی سره مرسته کیږي . دی پخپل مکتوب کې چې د سلطان مصطفی د ریم په عنوان و . د هغه

دلیک په خوب کې لیکلي ، دې نېکۍ ته اشاره کوي.

Fischer Weltgeschichte – Islam . s 155 -282 .

دلوی احمدشاه بابالیک ددریم سلطان مصطفی په عنوان . کابل ۱۹۶۷ .

۴ ــ پدې باره کې چې دگرگین او دهغه د ملګرو وژنه او دکندهار ښار آزادولو نه پخوا دمیرویس نیکه په ابتکار دمانجې جرګه دایره شوه او په دې باب یې تصمیم ونیوه او یا داچې داجرګه دګرګین دوژلو او دکندهار ښار ترآزادولو وروسته دایره شوه او خپل نور مهم تصمیمونه یې ونیول ، دنظر اختلاف موجود دی .

زما په نظر واقعیتونو ته په پاملرنه سره ښايي چې په دې اړوند دظفر کاکاخپل نظر ( پښتانه دتاریخ په رڼا کې ، ۸۱۰ مخ او په خاصه توګه ۸۱۸ ــ ۸۲۱ مخونه ) ومنل شي ، ځکه نړدې دټولو روایاتو په اساس په ګډه سره دامنل شوې چې میرویس نیکه داصفهان څخه وکندهار ته دراستنېدو وروسته په دې هڅه کې و ، چې دګرګین خان اعتماد ترلاسه کړي او په دې لاره کې له خپلو ملګرو سره دپټو اوورو جرګو او مرکو په نتیجه کې دې ته حاضر شو ، چې دګرګین غوښتنه ومني او دخپلې لور ترنامه لاندې خپله وینځه ورواده کړي او په دې توګه دګرګین دومره اعتماد ترلاسه کړي چې دمیرویس نیکه مېلمستیا دهغه په کور کې ومني او هلته له خپلو یو شمېر ملګرو او محافظینو سره شپه هم تېره کړي او ټول ووژل شي . وروسته ددوی په جامو کې هماغه شپه دمیرویس ملګري دکندهار ښار ته ننوزي او دګرګین لښکر څه وژني او څه یې تېښتې ته اړ کوي .

که داروایت صحیح وي ، نو باید میرویس نیکه تردې یرغل وروسته دمانجې جرګه جوړه او دکندهار خپلواکي یې اعلان کړې وي . که داسې نه وي نو څنګه به ګرګین په دې بړې بې احتیاطی له لږ شمېر محافظینو سره هلته شپه تېرولـه او یا بـه ولې میرویس نیکه په دومره احتیاط سره دګرګین اعتماد ترلاسه کولو . په داسې حال کې چې دګرګین پر لښکرو یې باید دمانجې دجرګې دپرېکړې په اساس یرغل کړی وای .



16117

# Afghan-Hotaki Uprising

## The Beginning of New Afghanistan Structure

**Collection of seminar's articles**


د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ـ جرمني

VEREIN ZUR FORDERUNG DER AFGHANISCHEN KULTUR E.V

د خپرونو لړ (۸۳)